ابوالفضل

مختصر صحيح البخاري

فضل الباري پښتو شرحه

Download from: aghalibrary.com



Download from: aghalibrary.com

د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب :: فضل الباري د بخاري شريف پښتو شرحه

ليکوال:: علامه محمد معين الدين ابوالفضل

خپرونکي :: د بېنوا پاڼه

دخپريدو طرز :: پرلپسې لړۍ

کمپوز/ ډيزاين ::خپله ليکوال

بسم الله الرحمن الرحيم.

بخاری شریف اودشرحي فضل الباري لړۍ (۱) برخه

الحمدلله وكفي والصلوة والسلام علي عباده الذين اصطفي.

صـراط مــستقيم مسلـــمينان ـــــ نمانده بعدفرقان جزبـــخاري

بخاري كرده است ازحسن نيت ـــــ دعايې مغفرت درشان قاري

دعاهايې بخاري مستجاب است ـــــ گمـــان راتـودرين دعوت چه داري

هرقدم په رهبري دعلم اخله ـــــ ابوالفضله كه دي خداي ته زړه مائل وي

امابعد: له دغي شرحي څخه دبخاري شريف چي فضل الباري يې نوم دئ گرانواستفاده كونكو ! له مخه تردي چي داسلام دپيغمبر درحمت للعالمين رسول دمقدسواحاديثو كوم چي امام بخاري (رحمه الله تعالي) په خپل كتاب بخاري شريف كښي راجمع كړيدي په شرحه اوپه تفصيل اوتحقيق پيل كوم ددغي شرحي كيفيت اوځرنگوالئ درته بيانوم .

محترمو په دغه شرحه كښي چي كوم بنيادي اواساسي امور په فهم كښي نيول سويدي هغه په دي ډول دي .

)۱ (دحديث دهرلفظ ترجمه په داسي ډول چي هرځوک په پوه سي اواستفاده ورڅخه وكړي.

)۲ (بيان دمناسبت دحديث له ترجمة الباب سره.

)۳ (بيان دتطبيق دمذهب اودحديث.

)۴ (دفعه دتعارض كچيري دغه حديث معارض حديث درلودئ.

)۵ (بيان دهغو مسئلو چي له مطلوب حديث څخه رامستنبطي سويوي.

)٦ (بيان دهغوكتابودحديثوچي دامام بخاري رحمه الله تعالي دكتاب په ډول په دوی كښي هم دهمدغه حديث روايت سويوي.

)۷ (علمي اوصرفي اونحوي اوبلاغي تحقيق دالفاظودحديث ،البته داضرور نه ده چي دهرحديث په تشريح كښي به دغه ذكرسوي ټول امورتحقق مومي ، بلكي د اكيداى سي چي ديوه حديث تشريح به له ځني ددغوامورو څخه خالي وي ،پاته سو بيان دسند اودراويانو دحديث نو ودي ته زه په دغه شرحه كښي هيڅ اشاره نكوم الاماشاءالله ،ځكه

چي يوخوپه دي باره کښې ځانته کتابونه جوړسويدي ،ودغه کارته په هغووختوکښې ضرورت ؤ چي احاديث به يودبله پياد زده کيدل ،اوراويان دحديثو اواحوال ددوی چې سوي اوپه کتابو کښې مثبت سوي نه ؤ ، تردي دمخه چي دبخاري شريف دکتاب دابتدائي الفاظو شرحه پيل کوم يوځومقدماتي بيانونه کوم چي ترعامواحاديثو اوترټولوکتابو داحاديثوتعلق لري.

)۱ (پوسه چي يومطلق علم حديث دئ، اودوهم علم روايت الحديث دئ ، دريم علم درايةالحديث دئ، اوځلورم علم اصول حديث دئ ،دمطلق علم حديث تعريف په عربي ژبه په دي دول دئ. (هوعلم يُعرف به اقوال رسول الله صلي الله عليه وسلم وافعاله واحواله)

)الكرماني ج۱ص عمدة القاري ج۱ ص۱۲ (

يعني مطلق علم حديث عبارت دئ له علم څخه په قولودرسول عليه السلام اوپه فعلواوکارو دده اوپه احوالودده.

اودعلم رواية الحديث تعريف په عربي ژبه په دي ډول دئ:

)هوعلم يشتمل علي نقل افعال رسول الله صلي الله عليه وسلم واقواله وصفاته وتقريراته(

تدريب الراوي ج۱ ص۲۰

يعني علم درواية الحديث هغه علم دئ چي مشتمل وي پرنقل کولوباندي دفعلودرسول عليه السلام اودقولوددده اودصفتوددده اودتقريرودده.

پوسه! چي دنبي عليه السلام فعلونه اوقولونه اوصفتونه خووبيان ته حاجت نه لري سره له دي چي په بل ځاي کښې بې وضاحت راسي ،اوتقريردرسول عليه السلام ودي ته ويل کيږي چي ده مبارک ويوچاته پريو کارباندي مثلاً قرارورکړيوي، په دي معني چي دده په حضورکښې يوچايوکارمثلاً کړيوي اوده مبارک پرهغه چاباندي انکارنه وي کړئ.

اودعلم دراية الحديث تعريف په عربي ژبه په دي ډول دئ :

هو علم يشتمل علي شرح اقوال رسول الله صلي الله عليه وسلم وافعاله وصفاته ويعلم به طُرق استنباط الاحكام ويعرف به ترجيح الراجيح منها والتطبيق بين الاحاديث.

هكذايفهم من تدريب الراوي ج۱ ص۴۰

يعني ددراية الحديث علم هغه علم دئ چي مشتمل وي پرشرحه اوپربيان باندي دقولواودفعلواودصفتو درسول عليه السلام،اوپيژندلي کيږي په ده سره لاري درايستلو دشرعي احکامواودارنګه پيژندل کيږي په ده سره ترجيح دهغه حديث چي راجح وي له نورواحاديثو څخه ، اودارنګه پيژندل کيږي په ده سره تطبيق په منځ کښې داحاديثو.

اودعلم اصول الحديث تعريف په عربي ژبه په دي ډول دئ:

)هوعلم بقوانين يعرف بها احوال السند والمتن(

اويا په دي ډول :

هوالعلم بالقواعدالمعرِّفة بحال الراوي والمروي(

تدريب الراوي ج۱ص۴۱ ـــــ

يعني علم اصول الحديث علم دئ په داسي قوانينواوكلي قاعدوچي دهغوی په سبب پيژندل كيږي احوال دسند اود متن دحديث ،ياعلم اصول الحديث پيژندنه دداسي قاعدوده چي ورپيژندونكي وي دحال دراوي دحديث اودمروي چي حديث دئ.

پاته مقدماتي بيانونه به په (۲)برخه كښي انشاءالله درته راسي.

بخاری شریف اودشرحي فضل الباري لړۍ (۲) برخه

بسمه تعالی . محترموورونو ددي لړي په اوله برخه کښي دحديثو دځلور قسمه علومو په عربي ژبه تعريفونه اودهغوی ژباړه موږوتاسي ته بيان کړه په دي برخه کښي ځني نورمقدماتي بيانونه درته کوم چي ددغه ټول بيانونه کوم چي په دغه برخه کښي درته راځي دتيري برخي له توضيح اوله اتمام سره تعلق لري.

اول بيان په قول اوپه فعل اوپه صفت اوپه تقريرکښي درسول الله صلي الله عليه وسلم دي.

پوسه چي قول درسول الله صلي الله عليه وسلم دده مبارک ومبارکوارشاداتو اووياؤ ته ويل کيږي لکه دا ارشاد دده مبارک چي (الدين النصيحة) رواه مسلم ج۱ص۵۴ اوترمذي ج۲ ص۱۴ اونسايي ج۲ص۵۸۱،او احمد په مسندخپل کښي ج۱ ص۳۵۱.

يعنی دين نصيحت اوخيرخواهي دئ، يعني په دي معني چي مسلمان به خير خواه وي هم به دخداي خيرخواه وي اوهم به درسول خيرخواه وياو هم به دخداي دکتاب قران کريم خيرخواه وي، اوهم به دنيکوامامانو اوامېرانوخيرخواه وي، اوهم به دعاومسلمانانوخيرخواه وي.

افعال درسول عليه السلام:

وهغوکاروته دده مبارک ويل کيږي کوم چي له ده ځخه صادرسوي وي اوده مبارک کړيوي لکه په دغه مبارک حديث کښي چي (ان رسول الله صلي الله عليه وسلم جَمع في حجة الوداع المغرب والعشاء بالمزدلفة)بخاري ج۱ ص۲۲۷،اومسلم ج۱ ص۴۱۷

يعني بيشکه رسول الله عليه وسلم سره جمع کړل په حجة الوداع کښي دمابنام اودماخستن لمونځونه په مزدلفه کښي يعني دمابنام اودماخستن لمونځونه يې دواړه په مزدلفه شريفه کښي دماخستن په وخت کښي وکړل.

احوال درسول عليه السلا م:

احوال درسول عليه السلام عبارت دي له صفاتوځخه درسول عليه السلام ، اوصفات درسول عليه السلام دوه قسمه دي ،اول اختياري صفتونه، اودوهم غيراختياري صفتونه ، اختياري صفتونه دده مبارک له رحمت اوشفقت دده دالله جل جلاله پرمخلوق باندي اولکه عبادت اوتواضع اوحلم دده مبارک ،اوغير اختياري صفتونه دده مبارک عبارت دي دده مبارک له جسماني صفتوځخه ،لکه دمثال په ډول دا چي دي مبارک ميانه قده ؤ وغيره.

پوسه چي علماءدعلم رواية الحديث دده مبارک ددغودواړوقسموصفتوروايت اوذکرکوي ، اوفقهاءرحمهم الله تعالي تنها دده مبارک له اختياري صفتوځخه بحث کوي داپه دي سبب چي ددوی مقصد ترهغوصفتوپوري داسلام دپيغمبرتعلق لري کوم چي له دوی ځخه د شرعي احکامواستنباط کيږي اوهغه دده مبارک اختياري صفتونه دي.

تقاريرياتقريرات درسول عليه السلام:

دتقرير دلفظ جمع ده ،تقرير په اصل کښې دتفعيل دباب مصدر دئ چې په معني د قرارورکولو دئ ،او په عام عرف کښې تقرير بيانول دي دمعني په عبارت سره لکه تحريرچې بيانول دمعني په کتاب سره دئ، دمحدثينو په اصطلاح کښې تقرير درسول عليه السلام ودي ته ويل کيږي چې يوه داسي شخص به چې دشريعت به تابع ؤ درسول عليه السلام په حضورکښې يوکاروکړاويابي يوه خبره وکړه اورسول عليه السلام به په هغه کار ياخبره باندي سکوت وکړ ،اوپرهغه باندي بې انکارونکړ نوودغه سکوت ته ددې مبارک تقرير ويل کيږي.

پوسه چې سکوت درسول عليه السلام پريوه کارياپوه خبره باندي حجت اودليل دصحت اوجواز دهغه کاراودهغي خبري دئ اودارنګه دهرنبي سکوت هم دغه حکم درلودئ ،مګر پرته له نبي څخه د بل هيچا سکوت حجت اودليل نسي ګرځيدلای.

لمعات التنقيح ج۱ ص۲۲

دوهم بيان په موضوع کښې دعلم حديث دئ.

پوسه چې دموضوع لفظ په اصل کښې کښې داسم مفعول صيغه ده چې وايښول سوي شي ته ويل کيږي ،اودغه لفظ دحکماؤ په اصطلاح کښې وهغه محل ته ويل کيږي چې له هغه شي څخه مستغني وي کوم چې په ده کښې يې حلول کړيوي چې عربي تعبير يې په دي ډول دئ.

(الموضوع هوالمحل المستغني عن الحال) دمثال په ډول انسان موضوع بلل کيږي ،اوددې رنګ اوصفتونه اعراض بلل کيږي.

اودمنطيقيانوپه اصطلاح کښې موضوع واول جزته د قضيې حمليې ويل کيږي کومه چې نحويان ورته جمله اسميه خبريه وايې ،لکه زيد قائم په دغه جمله کښې دزيدلفظ موضوع بلل کيږي اودقائم لفظ ته ددوی په اصطلاح کښې محمول ويل کيږي.

اودنحويانو په اصطلاح کښې موضوع وهغه شي ته ويل کيږي لفظ وي اوکه غير لفظ وي چې ديوي معني دپاره وضعه سوئ وي.

اوپه مشترکه اصطلاح کښې دټولوعلومو موضوع دعلم وهغه ته ويل کيږي چې په دغه علم کښې ددي له ذاتي عوارضوڅخه بحث کيږي کوم چې عبارت دي له هغوصفاتو اواحوالوڅخه ددغي موضوع چې ودي ته يعني ودغي موضوع ته ددي دذات له وجي ياددي دمساوي له وجي عارض سويوي.

علامه كرماني فرمايلي دي چي موضوع دعلم حديث ذات درسول عليه السلام دئ ، يعني په دي حيث چي دي رسول دئ.

پوسه چي ذات درسول عليه السلام له دي حيثيته چي دي رسول دئ دمطلق علم حديث موضوع دئ نه دعلم رواية الحديث ځكه چي موضوع دعلم رواية الحديث مرويات اوروايات دي له حيثيت څخه دمتصل والي دحديث اودمنقطعوالي دده په اعتبار دسندسره.

مقدمة اوجزالمسالک ص٧

اوموضوع دعلم درايةالحديث هم روايات او مرويات دي خومگر له حيثيته دشرحي اودبيان دالفاظو دمروياتواو له حيثيته داستنباط داحكامو شرعيه ؤله دوی څخه.

اوموضوع دعلم اصول الحديث دحديث متنونه اودحديث سندونه دي.

دريم بيان په غرض اوپه غايه كښي دعلم حديث دئ.

پوسه چي غرض وهغه ته ويل كيږي چي دهغه دتحصيل په وجه ته يوفعل اوكار وكړي اوغايه وهغه ته ويله كيږي چي ستاپركا رباندي مرتبه سي دمثال په ډول ته وبازارته ددي دپاره ولاړ سي چي يوشي رانيسي نودغه تگ چي تاوبازارته ددغه شي درانيولودپاره وكړنووتاته ذوالغرض اوستا ودغه تگ ته ذوالغاية ويل كيږي ،اورانيول ددغه شي چي وتاته منسوب كړي نوغرض ورته ويل كيږي ،اوچي ستاودغه كارته يې منسوب كړي نو غاية ورته ويله كيږي.

دعلم حديث غرض اوغاية فَوزاوبري دئ په سعادت دداريتو.

كرماني ج١ ص١٢.

اوځنوعلماؤفرمايلي ي چي غاية اوغرض دعلم حديث مشابهت پيداكيدل دي دنبي عليه السلام له اصحابو سره ،ځكه چي اصحابوبه درسول عليه السلام حديثونه اوريدل اوپيادول بي اونوروته بي رسول نويوځوک چي په علم حديث مشغول وي نوهغه هم په دغوصفتوسره موصوف گرځي.

نورمقدماتي بيانونه به په(٣)دريمه برخه كښي درته راسي.

بخاری شریف اودشرحي فضل الباري لړۍ (۳) برخه

بسمه تعالي.

محترمو کتونکو په دي برخه کښي دمقدماتي بيانوله جملي څخه په باره کښي داقسامو اودانواعو دکتابو داحاديثوبيان درته کوم.

پوسه چي داحاديثوعلماؤ داحاديثو کتابونه وډيرواقساموته تقسيم کړيدي چي تفصيل يې په لاندي ډول دئ.

اول قسم جوامع دي.

جوامع جمع دجامع دئ اوجوامع د حديثو وهغو کتابوته ويل کيږي چي په دوۍ کښي داتو ۸ مضامينو حديثونه راوړل سويوي چي هغه اته ۸ مضمونونه په دغه شعر کښي ذکر سويدي.

سير،اداب ،تفسير، عقائد ــــــــــــــــ فتن،احکام ، اشراط ،ومناقب.

له سير څخه مراد دجهاد اودغزاګانو حديثونه دي ، له اداب څخه مراد هغه حديثونه دي چي ترمعاشرتي امورو پوري تعلق لري ، له تفسير څخه مراد هغه حديثونه دي چي دقران کريم ترتفسير پوري تعلق لري ، اوله عقائدڅخه مرادهغه حديثونه دي چي ترايماني اموروپوري متعلق وي، اوله فتن څخه مرادهغه حديثونه دي چي په هغوۍ کښي داسلام پيغبر وخپل امت ته له راتلونکو حوادثو اوفتنوڅخه پيشګويې کړيوي ،اوله احکام څخه مرادهغه حديثونه دي چي په هغوۍ کښي دفقهي حکمونه بيان سويوي ، اوله اشراط څخه مراد هغه حديثونه دي چي په دوۍ کښي دقيامت دورځي دعلامو ذکرراغلئ وي ، اوله مناقب څخه مراد هغه حديثونه دي چي منقبتونه اوفضيلتونه دصحابه ؤ پکښي بيان شويوي، پردي خبره باندي اتفاق دئ چي بخاري شريف،او ترمذي شريف دجوامعوکتابو له جملي څخه دي ،البته د مسلم شريف په باره کښي دځنوعلماؤ قول دادئ چي دجوامع له جملي څخه نه دئ ځکه دتفسير په ارتباط چي کوم حديثونه په مسلم شريف کښي راغلي دي نو هغه ډير کم دي ،خو صحيح قول دادئ چي مسلم شريف هم له جوامع څخه دئ ،ځکه که څه هم هغه حديثونه چي امام مسلم په کتاب التفسير کښي راوړيدي کم دي مګر که دتفسير په اړه وهغوټولوروايتو ته وکتل سي کوم چي په مسلم کښي په مختلفو ځايو کښي ذکرسويدي نوبيا دتفسيرروايتونه دمسلم شريف هم وکافي مقدارته رسيږي.

دوهم قسم دکتابو داحاديثو سنن دي.

سنن وهغه کتابو ته داحاديثو ويل کيږي چي په دوۍ کښي احاديث دفقهي دبابوپه ترتيب ذکرسويوي لکه سنن ابي داود ، اوسنن نسائی ، او جامع ترمذي ، ترمذي شريف سره له دي چي دجوامع له جملي څخه دئ دسنن له اقسامو څخه هم دئ.

دريم قسم مسانيد دي.

مساندحديثو وهغوکتابوته ويل کيږي چې په دوی کښې حديثونه دصحابه ؤ په ترتيب راوړل سويوي ، اوترتيب دصحابه ؤ ځنو علماؤ دحروف تهجي په اعتبار معتبر کړيوي ،دمثال په ډول دکوموصحابه ؤ په نومونو کښې چې اول حرف همزه راغلئ وي نودوی دهغوی روايتونه دمخه ذکرکړيوي اودکوموصحابه ؤپه نومونوکښې چې (ب)راغلي وي نو بيايې دهغو روايتونه ذکرکړيوي ، وهکذا.

اوځنوعلماؤ بيا ترتيب ددوی ددرجواومرتبو اومقاماتو په اعتبار معتبر کړيدئ په دي ډول چې مثلاً اول يې دخلفايې راشدينو روايتونه ذکرکړيوي بيا يې دعشره مبشره ؤروايتونه ذکرکړيوي ا و

بيايې دهغو صحابه ؤ روايتونه ذکرکړيوي کوم چې دبدر وغزاته حاضر سويوه چې بدريين ورته ويل کيږي ، اودريم يې دهغو اصحابو روايتونه ذکرکړيوي چې په بيعت رضوان کښې يې شرکت کړيوو ،وهکذا.

اوځني علماوو بيا دصحابه ؤ ترتيب دقبيلو په اعتبار معتبرکړيوي په دي ډول چې اول يې دبني هاشم دقبيلي داصحابو روايتونه ذکرکړيوي اوبيا يې دهغي قبيلي داصحابو روايتونه ذکرکړيوي کومه چې دبني هاشم وقبيلي ته په قرابت کښې نږدي وي وهکذا.

په مساندوکښې ترټولو ډيرمشهورمسند، مسند دامام احمد بن حنبل رحمه الله تعالي دئ.

تنبيه : پوسه چې دمسند دلفظ اطلاق کله کله پرهغه کتاب باندي هم کيږي په کوم کښې چې مسند اومرفوع حديثونه ذکرسويوي په همدي وجه وبخاري شريف ته المسند الصحيح للبخاري ، اووسنن دارومي ته مسنددارومي ويل کيږي.

څلورم معاجم دي.

حضرت شاه عبدالعزيز رحمه الله تعالي په عجالة نافعة کښې ذکرکړيدي چې دمحديثينو په اصطلاح کښ معاجم داحاديثو وهغوکتابوته ويل کيږي چې په دوی کښې حديثونه دمشائخو اوداستاذانو په ترتيب ذکرسويوي خو ځينو دغه ترتيب دتقدم في الوفات په اعتبارمعتبر کړيدي په دي ډول چې کوم استاذ يې دمخه وفات کړيوي نو دهغه حديثونه يې دمخه ذکرکړيوي ،وهکذا،اوځنوبيا دمشائخو ترتيب دمشائخودعلم اوفضيلت په اعتبار اوځنوبيا دحروف تهجي په اعتبار معتبرکړيوي خو اخيري طريقه په عمومي ډول رائجه ده ، اوحضرت مولانا محمد زکريا صاحب بيا فرمايلي دي چې معجم وهغه کتاب ته ويل کيږي چې په ده کښې دحروف تهجي په ترتيب حديثونه ذکرسويوي، بياداپردري قسمه دي، اول قسم يې دادئ چې ترتيب دحروف تهجي ؤيې دصحابه کرامو له نومو څخه معتبرکړيوي ، دوهم قسم يې دادئ چې دشيوخو اواستاذانوله نومو څخه يې دحروف تهجي ترتيب رااخستئ وي ،اودريم قسم يې دادئ چې داحاديثو له حروفو څخه يې دحروف تهجي ؤترتيب اخذکړيوي.

پنځم قسم مستدرکات دي.

مستدرکات وهغو کتابوته دحدیثو ویل کیږي چي په هغوی کښي هغه حدیثونه راوړل سویوي

چي هغه دیوه بل مصنف کوم چي په حدیثو کښي یې کتاب جوړکړیوي پرشرط باندي برابر وي مگر هغه قصداً یا سهواً هغه حدیثونه په خپل کتاب کښي نه وي راوړي لکه مستدرک دحاکم علي الشیخین.

شپږم قسم مستخرجات دي.

مستخرج وهغه کتاب ته دحدیثو ویل کیږي چي دده مصنف دیوه سابق مصنف دکتاب حدیثونه اوروایتونه په خپل کتاب کښي په خپل سندسره راوړیوي نه دسابق مصنف په سند سره په دي ډول چي سابق مصنف دده په سند کښي نه وي راغلئ بلکي دده سند ده سابق مصنف له شیخ یا له شیخ الشیخ سره مثلاً گډ سویوي.

اوم اجزاء دي.

اجزاوهغوکتابوته ویل کیږي چي په دوی کښي یا ده یوه سړي مرویات اوحدیثونه ذکر سویوي عام له دي څخه که دغه یوسړي له صحابه ؤ څخه وي یا ددغه مصنف له مشائخو څخه وي لکه جزدحدیث دابوبکر رضي الله تعالي عنه ،اویا په دوی کښي دیوي جزئی مسئلئ مربوط حدیثونه ذکرسویوي لکه جزء رفع ا لیدین.

اتم قسم اربعینات دي.

اربعینات وهغوکتابوته ویل کیږي چي صرف څلویښت حدیثونه په دوی کښي راوړل سویوي .

:تنبیه : پوسه چي اربعینات کتابونه ځکه علماء کرامو تصنیف کړیدي چي داسلام پیغمبرصلي الله علیه وسلم فرمایلي دي.

(من حفظ علي امتي اربعین حدیثاً في امر دینها بعثه الله فقیهاً وکنت له یوم القیامة شافعا وشهیداً) رواه البیهقي في شعب الایمان ج۲ص۲۰۷ و۲۷۱

یعني هرچا که حفظ کړل پر امت ځما باندي څلویښت حدیثونه په باره کښي دکار ددین دامت زما نودقیامت په ورځ به مبعوث کړي دي الله پاک په داسي حال کښي چي فقیه به وي، یعني په جمله کښي دفقهاؤ به وشمیرل سي اوسم به زه ده لره په ورځ کښي دقیامت شفاعت کونکي اوشاهد.

پوسه چي دغه حدیث که څه هم علماؤ ضعیف ګڼلي دئ خو حافظ جلال الدین سیوطي په جامع صغیر کښي دغه حدیث مبارک ذکر کړیدئ اودصحت علامه یې ورکړیده په دي سبب چي ددغه حدیث په ډیرو سندو سره روایت سویدئ نودسندودکثرت په اعتبار له ضعف څخه خارج سویدئ.

نهم قسم علل دي .

علل وهغه قسم ته دکتابو دحديثو ويل کيږي چې په دوی کښې دهر حديث ټول سندونه اواختلاف دراويانواوخفي علتونه ذکرسويوي.

لسم قسم اطراف دي .

اطراف وهغو کتابو ته دحديثو ويل کيږي چې په دوی کښې داحاديثو يوه يوه برخه ذکر سويوي او داپکښې ويل سوي وي چې دغه حديث مثلاً په فلان اوفلان کتاب کښې په فلان او فلان ځای کښې مذکوردئ.

يوولسم قسم ترغيب اوترهيب دئ.

اودووولسم قسم مسلسلات دي.

اوديارلسم قسم ثلاثيات دي.

اوڅورلسم قسم کتب العقائد دي

اوپنځلسم کتب الاحکام دي.

اوشپاړسم قسم کتب التاريخ دي.

اواولسم قسم کتب الزهددي.

اواتلسم کتب الاداب دي..

نولسم کتب الفتن دي .

اوشلم قسم کتب المناقب دي.

يويشتم قسم کتب مشيخه دي.

دويشتم قسم کتب الافراد والغرائب دي.

محترممو مستفيدينو ځلورمه اوپنځمه برخه لا په مقدماتي بيانو کښې ده له هغه څخه وروسته به انشاء الله دبخاري شريف دشرحي لړۍ پيل سي.

بخاری شریف او د شرح فضل الباري لړۍ (۴) برخه

بسمه تعالي.

محترمولوستونکو دګمراه ډلو له جملي څخه یوه ډله داسي ډله ده چي دمنکرین حدیث په نامه سره یادیږي دغه ډله دنبي علیه السلام له احادیثوڅخه منکره ده ،او په احادیثوعمل کول جائزنه ګڼي البته دغه ګمراه ډله بیا په خپل منځ کښي هم پرمختلفوډلوباندي تقسیم سویده ، دوی دخپل دغه فاسد مسلک دپاره له ځان سره خورا ډیر باطل دلیلونه لري چي مکمله توضیح به ددي په خپل مناسب ځای کښي انشاءالله درته راسي ،ددوی له ډیرومهمو دلائلو څخه یودلیل دادئ چي دنبي علیه السلام داحادیثو تدوین دده مبارک له وفات څخه دوه سوه یادوه نیم سوه کاله وروسته سویدئ ،یعني هغه وخت چي دامام بخاري ، امام مسلم ، امام ابوداود ، امام نسائي ،اوامام ابن ماجه وغیرهم رحمهم الله تعالي زمانه راغله نوداحادیثوتدوین وسو ،نوپه دي سبب احادیث قابل دقبول نه دي، نوپه دي خاطر چي ددغوګمرهانو ددغي خبري کذب اوبطلان درته واضح سي نوځني نمونی دتدوین اودلیکني درسول علیه السلام داحادیثوکومي چي داصحاب کرامو په زمانه کښي داصحاب کراموپه لاسوسره سویدي درته ذکرکوم خوله مخه تردي دوي مهمي خبري درته کوم.

اوله خبره دا ده چي داسلام د پیغمبر اودصحابه ؤ په زمانه کښي دنبي علیه السلام دحدیثونودحفاظت اودخوندي کولو دپاره اصحابو دري لاري په کاراچولي وي ،اوله لارداوه چي دنبي علیه السلام احادیث بي په خپلوذهنواوپه زړو کښي په مضبوط ډول حفظ کول اوپیادول بي وعربوته په فطري ډول الله پاک ډیري طاقتوري اوبي مثاله دحفظ قوي ورکړیوي اوکله چي بیا دوی په اسلام مشرف سول نوپه دي باره کښي نورهم مضبوط وګرځیدل ،اودوهمه لار دتعامل لاروه ، یعني هرحدیث چي به دوی له نبي علیه السلام څخه واوریدئ نو په حتمي ډول بې دهغه په مقتضي عمل کاوه ، اودریمه لار داوه چي ځینوددوی به دنبي علیه السلام دمبارکواحادیثو تحریراولیکنه هم کوله.

دوهمه خبره داده چي له نبي علیه السلام څخه داسي روایتونه اوحدیثونه هم راغلي دي چي هغه پردي باندي دلالت کوي چي داسلام پیغمبر خپل اصحاب له تدوین اوله لیکني داحادیثوڅخه منعه کړیوه دمثال په ډول په مسلم شریف کښي له حضرت سعید خدري رضي الله تعالي عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي .(لاتکتبوا عني ومن کتب عني غیرالقران فلیمحه حدثوا عني ولاحرج ومن کذ ب علي متعمداً فلیتبوء مقعده من النار)

یعني مه لیکئ تاسي له ماڅخه یعني حدیثونه زما اوهرچا که لیکلي وي له ماڅخه غیرله قرانه ،یعني نور شیان نومحوه اوخراب دي کړي ،او نقل درواېت اودحدیث کوئ له ماڅخه اوپه دي کښي هیڅ حرج اوممانعت نسته اوهرچاکه وویل دروغ پرماباندي په داسي حال کښي چي تعمدکونکئ ،قصدکونکئ ؤ په دغه دروغ ویلو کښي نوودي نیسي ځای خپل له اورڅخه ددوږخ.

همدارنګه ددترمذي شريف په دوهم جلد (١٠٦)صفحه کښي له حضرت سعيدخدري رضي الله تعالي څخه په دي مضمون روايت سويدئ چي ده ويلي دي چي ما له رسول عليه السلام څخه دحديثو دکتابت اجازت وغوښتئ نوده مبارک وماته اجازت رانکړ، دارنګه دمسند امام احمد په پنځم جلد (١٨٢) مخ کښي له حضرت زيدبن ثابت څخه په هم دغه ډول روايت سوی دی خو له دي سره سره داحاديثوپه معتبروکتابوکښي داسي حديثونه هم موجوددي چي داسلام پيغمبرداحاديثو دکتابت اجازه واصحابو ته کړيده بلکي پدي باندي هم دلالت کوي چي ده مبارک به واصحابوته داحاديثو پرليکنه باتدي باعثتوب ورکاوه نوعلماء کرامو اومحديثينو فرمايلي دي چي احاديث دمنع دکتابت محمول دي پرابتداء داسلام باندي اومنسوخ سويدي په هغو حديثوسره چي داحاديثو دکتابت پراجازه باندي دلالت کوي مکمل تفصيل به ددي هم په خپل ځای کښي درته راسي دلته دغه قدرکفايت کوي.

درخانه اگرکس است ـــــ يک حرف بس است

اوس وهغوليکنوته ځيرسئ کومي چي نبي عليه السلام يا صحابه ؤ دنبي عليه السلام داحاديثو کړيدي .

درسول عليه السلام اودصحابه کرامو په زمانه کښي تر (١١٠) هجر ي سني پوري داحاديثومبارکه ؤد تدوين اود کتابت بيان.

)١ (کتاب صدقه .

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمايې چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپل

ژوندپه اخري ورځوکښي وخپلوحاکمانوته دليږلو دپاره کتاب الصدقه تيار کړئ وو چي په هغه کښي دحيوانانودزکات مسئلي وي .(ترمذي)

)٢ (صحيفه عمروبن حزم

رسول الله صلي الله عليه وسلم ديمن وګورنرياوالي عمروبن حزم رضي الله تعالي عنه ته يوه صحيفه ليږلي وه چي په هغه کښي دقران کريم دتلاوت ، لمونځ ، زکات ، طلاق دغلام ازادولو، قصاص ،ديت فرائض (د ميراث مسئلي) سنن اودکبيره ګناهونو تفصيل ليکل سوئ وو.

احمد ،ابوداود ،نسائي دارقطني ،دارمي ،حاکم ،

)٣ (صحيفه علي رضي الله تعالي عنه.

رسول الله صلي الله عليه وسلم وعلي رضي الله عنه ته يوه ليکلي سوي صحيفه ورکړي وه چي دهغي صحيفي په باره کښي به علي رضي الله تعالي عنه فرمايل چي،،قسم په الله دئ زماسره دويلولیکلو بل کتاب نسته ماسوي دالله پاک

دكتاب څخه اوددي صحيفي څخه، داماته رسول الله صلي الله عليه وسلم راكړيوه په دي كښې دزكوة مسئلي ذكرسويدي.

احمد)

۴) (صحيفه وائل بن حجر رضي الله تعالي عنه.

وائل بن حجررضي الله تعالي عنه چي كله خپل وطن حضر موت ته تلئ ، نو نبي كريم صلي الله عليه وسلم دهغه لپاره دلمانځه ، زكات ، روژې، نكاح ،سود ، شراب وغيره په مسئلوباندي مشتمله صحيفه تياره كړه اوهغه ته يې وركړه.

)طبراني(

۵) (صحيفه سعدبن عباده .

سعدبن عباده په خپله له رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه حديثونه اوريدلي وو، اوداصحيفه يې تياره كړي وه

٦) (صحيفه سمرة بن جندب .

سمرة بن جندب رضى الله تعالي عنه داصحيفه درسول الله صلي الله عليه وسلم په ژوند كښې تياره كړيوه اوبياد هغه دزوى سلمان رضي الله تعالي عنه په حصه كښې راغله (حفاظت حديث)

۷) (صحيفه انس بن مالک .

درسول الله صلي الله عليه وسلم خاص خادم انس رضي الله تعالي عنه په خپله حديثونه اوريدلي ؤ ، بيا يې ليكلي ؤ اورسول الله صلي الله عليه وسلم ته يې اورولي ؤ اورسول الله صلي الله عليه وسلم دهغه تصديق كړئ ؤ.

)حاكم(

۸) (صحيفه عبدالله بن عباس رضي الله تعالي عنهما.

دعبد الله بن عباس رضي الله تعالي عنهما سره دحديثوځو كتابونه ؤ ،كله چي عبدالله رضي الله تعالي عنه وفات سو نو دهغه سره داوښ ديوه بوج برابركتابونه ؤ.

)ابن سعد (

۹) (صحيفه جابربن عبدالله . رضي الله تعالي عنهما

دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما ترتيب كړه شوي صحيفه دحج داحكامو پراحاديثو باندي مشتمله ده.

)١٠ (صحيفه صادقه .

له عبدالله ابن عمرو بن العاص رضي الله عنهما سره دحديثو ډيره لويه ذخيره وه چي ده به دهغي ذخيري په باره کښي فرمايل چي ،صادقه هغه کتاب دئ چي ما بې له کومي واسطي له رسو ل الله صلي الله عليه وسلم څخه اوريدلئ دي اوبيا مي ليکلئ دئ.

)١١ (صحيفه عمربن خطاب رضي الله تعالي عنهما .

په دغه صحيفه کښي دصدقي اودزکوة حکمونه ليکل سوي وو،امام مالک رحمه الله تعالي فرمايلي دي چي مادعمررضي الله عنه داکتاب په خپله لوستئ دئ.

موطا امام مالک.

)١٢ (صحيفه عثمان رضي الله تعالي عنه .

په دغه صحيفه کښي دزکوة ټول حکمونه درج سوي وو

بخاري.

)١٣ (صحيفه عبدالله ابن مسعودرضي الله تعالي عنهما.

دعبدالله ابن مسعود زوی عبدالرحمن رحمه الله تعالي به په قسم سره ويل چي داصحيفه زما پلار په خپل لاس ليکلي ده.

ائينه پرويزيت .

)١۴ (مسندابي هريره.

ددغه مسند نسخي داصحابو په وخت کښي ليکلي شويدي چي يونسخه يې دامیرالمؤمنين عمر بن عبدالعزيز له پلارسره هم موجوده وه.

محترمولوستونکو په پنځمه برخه کښي به دامام بخاري اوددە دکتاب حالات انشاء الله تعالي درته بيان سي، اوپه شپږمه برخه کښي به انشاءالله دبخاري شريف په شرحه شروع کوو

د بخاري او د شر ح فضل الباري لړۍ (۵) برخه

بسمه تعالي

محترمو لوستونکو دهغي وعدي مطابق چي په څلورمه برخه کښي مي درسره کړي وه په دي برخه کښي دامام بخاري رحمه الله تعالي اودده دکتاب صحيح البخاري دحالاتو بيان درته کوم خو له مخه ترشروع په دغه بيان کښي يو مهم مطلب درته ذکرکوم.

هغه مطلب دادئ چي شيخ مولانامحمد زکريا ذکرکړيدي چي داحاديثوکتابونه پرپنځه قسمه مرتبوباندي ويشل سويدي ، اول قسم هغه کتابونه چي ددوی احاديث مورِ په پټو سترګو منو اوصحيح يې بولواوکه څوک دهمدغوکتابو په يوه حديث کښي کوم تردد اوشک ښکاره کړي نومورِ له ده څخه ددليل مطالبه کوو ،دغه کتابونه عبارت دي له دغو کتابو څخه ، صحيح بخاري ، صحيح مسلم ، موطا امام مالک ،صحيح ابن حبان ،مسند ابوعوانه مستدرک حاکم ،وغيره.

البته دمستدرک د حاکم په باره کښي دااعتراض کيږي چي حافظ ذهبي دمستدرک پرډيرورواياتو باندي تنقيد کړئ دئ ،خوددغه اعتراض جواب دادئ چي مستدرک چي په دغه اعلي طبقه کښي داخل دئ نودا دخول يې دهغواحاديثو په اعتبار دئ کوم چي پرهغوی باندي ذهبي سکوت کړئ دئ ،اودهغو احاديثو په اعتبار کوم چي ذهبي په هغوی باندي تنقيد کړيدئ په دريمه طبقه کښي داخل دئ کومه چي وروسته به راسي ،ځکه چي حاکم په مستدرک کښي له صحيحواحاديثو سره سره پرځني ضعيفو احاديثو باندي هم دصحت حکم کړئ دئ.

اودوهم قسم هغه کتابونه دي چي ددوی داحاديثو په باره کښي مورِ دانه سو ويلای چي داصحيح حديثونه دي البته داويلای سو چي دا احديثونه داحتجاج اوداستدلال قابل دي ځکه داحتجاج اوداستلال دپاره داضروري نه ده چي حديث به صحيح وي بلکي حسن حديث هم ددي صلاحيت لري چي دليل په ونيول سي ،دغه قسم کتابونه دادي:

ابوداودشريف ، نسائی شريف ترمذي شريف طحاوي شريف ،اومسسنداحمد بن حنبل ،وغيره.

دريم قسم هغه کتابونه دي چي دهغوی داحاديثو په باب مورِ دصحت يا دتغليط حکم علي الاطلاق نه کوو بلکي پکښي گورو او په پلټنه سره يې داخبره معلومه ؤ چي فلان حديث يې په کومه درجه کښي دئ اوفلان يې په کومه درجه کښي دئ ،دغه کتابونه لکه مصنف دعبدالرزاق مصنف دابن ابي شيبه اوابن ماجه وغيره.

اوځلورم قسم هغه کتابونه دي چي دهغوی داحاديثو په باب مورِ په پټوسترګو داحکم کولای سو چي دغه حديثونه ټول ضعيف دي او صرف دوعظ کتا بونه دي ،لکه مسند فردوس ددېلمي اولکه نوادرالاصول دحکيم ترمذي اولکه هغه حديثونه چي په اکثرو کتابو کښي دتفسيرراوړل سويدي.

اوپنځم قسم هغه حديثونه دي چې موضوعي حديثونه يې راجمع کړيدي ددي دپاره چې مسلمانان ورځخه خبرسي لکه اللالي المصنوعة في الاحاديث الموضوعة اولکه موضوعات کبري دملاعلي قاري رحمه الله تعالي ، خوزما په فکردلته يوشپږم قسم هم سته چې هغه هغه کتابونه دي چې په دوی کښې ځني هغه حديثونه چې نورو علماؤ موضوعي ګڼړلي وي په قوي دلائلوسره له موضوعيت ځخه ايستلي سوي وي لکه التعقبات علي الموضوعات دامام سيوطي صاحب.

ترجمه اواوحوال دامام بخاري.

پوسه چې دامام بخاري دنسب شجره په دي ډول علماؤذکرکړي ده.

محمدبن اسماعيل بن ابراهيم بن مغيره بن بَرْدِزْ بن بَذذ به الجعفي البخاري دده مبارک پلاراسماعيل دالله جل جلاله له صالحو بندګانو ځخه ؤاوله محدثينو علماؤځخه شميرلئ سوئ دئ اوابن حبان په کتاب الثقات کښې دده ذکرکړئ دئ اوده له حماد بن زيد اوله امام مالک ځخه داحاديثو روايت کړئ دئ له ده ځخه بيادعراق علماؤ دحديثو روايت کړيدئ اوله عبدالله ابن مبارک سره يې په مکه مکرمه کښې مصافحه کړيده اوعبدالله ابن مبارک زمور امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله تعالي له شاګردانو ځخه ؤ

حافظ ذهبي فرمايلي دي چې د بخاري پلار له تقوي داروعلماؤځخه ؤ

پوسه چې دده مبارک دپلار پرتقوي باندي يولوی دليل داؤ چې دوفات په وخت کښې يې ډيرمال پريښودئ ،اودايې وويل چې زما په دغه ټول مال کښې يوه روپي هم حرامه يا شبه ناکه نسته

اوداسماعيل نيکه مغيره په اصل کښې اتش پرست ؤبيا دبخارَي دحاکم يمان بن اخنس جعفي پرلاس باندي په اسلام سره مشرف سو اويمان دنسب په اعتبار عرب ؤ اوپه عربو کښې دجعفي قبيلي ؤ ،او جعفي بن سعدالعشيره دمذحج دقبيلي يوښاخ ؤ په همدغه سبب ومغيره ته اووامام بخاري ته جعفي ويل کيږي.

ولادت اووفات دامام بخاري.

پوسه چې په راجح قول دده مبارک ولادت په (۱۳)دشوال په سنه (۱۹۴) هجري کښې دجمعي له لمانځه ځخه وروسته پيداسوئ دئ اووفات دده مبارک دهفتي په شپه کومه چې دعيدالفطرشپه وه په سنه (۲۵٦)هجري کښې سوئ دئ ،اودکوچني ا ختر په ورځ دماشپين له لمانخه ځخه وروسته په خرتنګ کښې کوم چې دسمرقندله مضافاتوځخه دئ دفن کړ سو،

ټول عمردده مبارکديارلس ورځي کم دوشپيته کاله ؤ ځني علماؤ دده مبارک دولادت اودفات اودعمرذکر دابجديه حساب په دي ډول کړئ دئ.

كان البخاري حافظاً ومحدثاً

———

جمع الصحيح مكمل التحرير

ميلاده صدق (۱۹۴)ومدة عمره

فيهاحميد(٦٢)وانقضي في نور)٢٥٦ (

———————

امام بخاري رحمه الله تعالي لا بيخي وړوکي ؤ چي دده پلار له دنيا څخه انتقال وکړنوپه دي وجه دده دپالني اودتربيې ذمه واري دده د مبارکي مور پر غاړه باندي سوه او دده په صغيرتوب کښې داواقعه هم ورپيښه سوه چي دسترګوديد اوبينايي يې ختمه سوه چي په دي وجه دده مورمبارکه ډيره زهيره اوپريشانه سوه اودده دپاره يې په ډيرعجز اواحتياج سره دعاوکړه څرنګه چي دده مور هم ډيره عابده اونيک عمله ښځه وه نوالله پاک ددي دعاقبوله کړه په دي ډول چي د دي له دعاڅخه وروسته دې يوخوب وليدئ په خوب کښې له حضرت ابراهيم عليه السلام سره مخامخ سوه ،حضرت ابراهيم عليه السلام پردي باندي دازيري وکړچي ستادعا الله پاک قبوله کړه اوستا ددعا په برکت يې ستادزوی،سترګي بينا کړي نوکله چي دا له خوب څخه رابيداره سوه دخپل ځوی،محمد بن اسماعيل بخاري سترګي يې جوړي .اوروغي وي.

دامام بخاري تصنيفونه .

پوسه چي دامام بخاري رحمه الله تعالي مشهورتصنيفونه په دي ډول دي.

)١ (قضايا الصحابة والتابعين.

)٢ (التاريخ الكبير .(٣) الادب المفرد(۴) جزءالقراءة خلف الامام .(٦) تاريخ الاوسط .(٨) تاريخ صغير.(٩) خلق افعال العباد.(١٠) كتاب الضعفاء.(١١) برالوالدين(١٢) جامع كبير .(١٣) مسندكبير.(١۴) تفسيركبير.(١۵) كتاب الاشربة (١٦) كتاب الهبة (١٧) اسامي الصحابة (١٨) كتاب الوحدان (١٩) كتاب المبسوط (٢٠) كتاب العلل (٢١)كتاب الكُني (٢٢)كتاب الفوائد .

بخاري شريف.

پوسه چي دامام بخاري رحمه الله تعالي دتصنيفوله جملي څخه دغه مقدس كتاب ترټولو مشهور مقبول اودعظمت والا كتاب دئ چي اصح الكتب بعدكتاب الله وصف اونعت يې ګټلئ دئ ددغه مبارک كتاب مفصل نوم دامام نووي په قول دادئ. الجامع المسند الصحيح من امور رسول الله صلي الله عليه وسلم وسننه وايامه .

اودابن حجردوينا مطابق .الجامع الصحيح المسند من حديث رسول الله صلي الله عليه وسلم وسننه وايامه.

جامع په دي سبب ورته ويل کيږي چي په ده کښي امورثمانيه ټول موجود دي کوم چي مخکي ذکرسول ، اومسند په دي اعتبار ورته ويل کيږي چي امام بخاري په دغه کتاب کښي داسناد له متصل والي سره سره مرفوع حديثونه ذکرکړيدي ،اوکوم اثاروغيره چي په دغه کتاب کښي ذکرسويدي نوهغه په ضمني اوپه تبعيي توګه دي اوصحيح په دي وجه ودغه کتاب ته ويل کيږي چي امام بخاري حمه الله تعالي په دغه کتاب کښي داحاديثودصحت التزام کړئ دئ.

اومختصرپه دي اعتبار ورته ويل کيږي چي ټول صحيح حديثونه په دغه مبارک کتاب کښي امام بخاري نه دي راوړي امام په خپله فرمايلي دي ،چي مانه دي داخل کړي په دغه کتاب کښي مګرصحيح حديثونه اوځني صحيح حديثونه مي په دغه کتاب کښي نه دي راوړي ددي دپاره چي کتاب درازنسي.

له امورو

او له لفظ دحديث څخه مراداقوال درسول عليه السلام دي اوله سنن څخه مراد اقوال اوتقريرات دده مبارک دي .

اوله ايام څخه مرادغزاګاني دده مبارک اودارنګه هغه ټول واقعات مراد دي چي دنبي عليه السلام په زمانه کښی پيښ سويدي.

سبب دتأليف دصحيح بخاري.

پوسه چي علماء کرامو دصحيح بخاري دتأليف دوه سببونه بيان کړيدي.

)١ (سبب يې دادئ چي ابراهيم بن معقل نسفي فرمايلي دي چي امام بخاري رحمة الله تعالي په خپله ويلي دي چي زه دخپل استاذ اسحاق بن راهويه په مجلس کښي ناست وم چي زمونږ په ملګرو کښي يوه نفروويل چي کاشکي تاسي درسول عليه السلام په صحيح سنت يعني احاديثوکښي يومخنصر کتاب جمعه کړيواى دهمدغه ملګري له دغي خبري څخه زما په زړه کښي انديښنه اوداعيه دبخاري دکتاب دجوړولو پيداسوه . انظرتاريخ بغداد ج٢ ص٨ ،اوتهذيب الکمل ج٢٤ص٤٤٢ ،او سيراعلام النبلاء جلد١٢ص٤٠١ ،اوطبقات السبکي ج٢ص٧ ،او هدي الساري ص٧ وتهذيب الاسماء والغات ج١ ص٧٤ .

)٢ (سبب يې دا ووچي محمد بن سليمان بن فارس رحمه الله تعالي فرمايلي دي چي ماله امام بخاري څخه اوريدلي دي چي ده به فرمايل چي مارسول عليه السلام په خوب وليدئ چي زه دده مبارک په مخ کي ولاړوم زما په لاس کښي يولاسي پيک ياپنکه وه له ده مبارک څخه مي مچان شړل ځنومعبرينودخوب تعبير په دي ډول راکئ چي ته

به دروغ له رسول علیه السلام څخه دفع کوي ،یعني په دروغوچي کوم حدیثونه ودته منسوب سویدي ،نوته به دهغوی دفع وکړي نوپه دي وجه زما په زړه کښي دنبي علیه السلام دصحیح احادیثودجمعه کولوشوق پیداسو.

د بخاري شریف ابتداء اوانتهاء.

پوسه چي ټول کتاب امام بخاري رحمه الله تعالي په شپاړس کاله کښي تکمیل کړیدئ ،اودبعضي مشائخو په قول ابتداء دتصنیف یې په (۲۱۷) هــ کښي کړیده اواختتام یې په (۲۳۲) هــ کښي کړئ دئ ،اوتراجم دصحیح بخاري په ریاض الجنة کښي چي داسلام دپیغمبر دمبارک ممبر اودمطهري روضي مابین دئ په دي ډول امام بخاري لیکلي دي چي دهرترجمة الباب دپاره بې دوه رکعته نفل وکړل .مقدمة اللامع الدراري ص) ۱۲۴(

عمر بن محمد بن بجیر البجیري ویلي ډي چي امام بخاري فرمایلي دي چي دغه کتاب ما په مسجدحرام کښي لیکلئ دئ اودهر حدیث ترلیکني دمخه به مي استخاره کوله اودوه رکعته لمونځ به مي کاوه اوچي پرکوم حدیث باندي به مي دصحت یقین رانغلئ نوهغه به مي په بخاري کښي نه لیکئ .هدي الساري ص (۴۸۹) یعني ابتداءدتصنیف یې په مسجدحرام کښي کړیده ،اوځني علما ؤ لکه فربري فرمایلي دي چي امام بخاري فرمایلي ددي چي دهرحدیث دپاره چي مابه په بخاري کښي لیکئ نومابه غسل کاوه اودوه رکعته لمونځ به مي کاوه.

مقام اومرتبه دصحیح بخاري.

پوسه چي علماؤپردي خبره باندي اتفاق کړئ دئ چي ترټولو کتابو دحدیثو اصح کتابونه بخاري اومسلم دي اوبیاجمهور دعلماؤ پردي خبره باندي متفق دي چي په دوې دووکښي بیا اصح کتاب بخاري دئ.

د بخاري د احادیثو شمیر.

دبخاري د احدیثو شمیر په دي ډول دئ:

روایات مرفوعة موصولة مع مکررات ۷۳۹۷

روایات معلقة مخرجة المتون في الصحیح ۱۳۴۱

متابعات) ۲۳(

میزان ۹۰۸۲

روایات مرفوعة موصولة بدون تکرار ۲۶۰۲

روایات معلقة غیرمخرجة المتون في الصحیح ۱۵۹

میزان کل احادیث بدون تکرار ۲۷۶۱

محترمو مطالعه کونکو مقدماتي بيانونه خو بيخي ډير دي خاص بيا دامام بخاری اودده دکتاب په اړه چي په جريان کښي دسلسلې دشرحي دبخاري شريف به بيل بيل ځايونه درته راسي خودلته مقدماتي بيانوته په همدغه ځای خاتمه ورکوم او راروانی برخي به دبخاري شريف دکتاب په شرحه کښي وي

د بخاري شريف او د شرح فضل الباري لړۍ(٦) برخه اول باب(باب الوحي)

محترموورونو په دي برخه کښې دبسم الله شريف اودبخاري دکتاب داول باب دترجمة الباب دالفاظوتفسيراوعلمي تحقيق درته کوم ،دلفظي ترجمې ترپيل دمخه داخبردرته کوم چې امام بخاري دخپل کتاب ابتداء دوحي په باب سره څکه کړيده چې وحي مبدء اوسرچينه دټول شريعت اودقران کريم او د نبوي احاديثو ده

بسم الله الرحمن الرحيم ، باب كيف كان بدء الوحي .الخ ــ

لفظي ترجمه:

(بِسْمِ) خاص په نامه ، يا خاص په نامه سره (اَللهِ) دخداي پاک (الرَحْمَنِ) ډيرمهربانه په دنياکښې پرهرچاباندي، که کافروي که مسلمان وي

(الرَّحِيْمِ) ډيرمهربانه په اخرت کښې خاص پرمومنانو، شروع کوم ياتصنيف کوم ❓ يعني زه چې په دغه تصنيف کښې شروع کوم اويادداتصنيف چې زه کوم نوداپه داسي حال کښې کوم چې خاص په برکت د نامه سره دهغه الله چې رحمن اورحيم دئ مستعين اوکومک غوښتونکئ يم.

تنبيه : پوسه چې په عامو کتابوکښې کوم چې په پښتوسره ترجمه سويدي دبسم الله ترجمه په دي ډول سويې ده ، شروع کوم په نامه دالله پاک چې رحمن اورحيم دئ.

مګردغه ترجمه مناسبه نه ده اصلي ترجمه هغه ده کومه چې مادرته وکړه ، ددي يوعلت دادئ چې دشروع کوم لفظ دبسم الله دمتعلق معني ده اومتعلق دبسم الله په اتفاق سره لپاره دافادي داختصاص لکه چې تفصيل بي وروسته راسي له بسم الله څخه وروسته مقدرکړکيږي.

علمي تحقيقات اومباحث:

پوسه چې دبسم الله په ارتباط په ډيرو کتابو کښې بيان سويدئ اومورږهم په تفسيرفضل الرحيم کښې دبسم الله ډيرمفصل بيان کړيدئ خودتيمن اودتبرک په خاطريوځو مهمي خبري دلته ذکر کوم کومي چې په مذکور تفسيرکښې هم مانه دي بيان کړي.

اوله خبره داده چې متعلق دبسم الله الرحمن الرحيم په اتفاق دعلماوومقدراومؤخردئ اوداپه سبب ددووشيانو.

اول شي دادئ چي دجاهليت په زمانه کښي اودارنګه داسلام په ابتدائي دورکښي ترهغه پوري چي دعربومشرکانووجودرلودئ چي به کله مشرکانوپه يو کارکښي شروع کوله نودبتانوپه نومو سره بي تبرک اوتيمن حاصلوئ اوداسي بي مثلاً ويل ،بسم اللات والعزي نشرع،

يعني خاص په نامه دلات اودعزي بت موږشروع کوو يعني په فلان کار کښي نودوی به دمذکوره جاراومجرور متعلق کوم چي نشرع دئ وروسته ذکرکاوه نوځرنګه چي بسم الله شريف ددوی ددغه ذکرسوي قول په مقابل کښي ده نو په دي وجه بايد دبسم الله متعلق له بسم الله ځخه وروسته وي.

دوهم شي دادئ چي په نحوه کښي داقانون دئ چي دهرشي چي حق تقديم او دمخه کول وي اوته يې وروسته کړي اويايې حق وروسته کول وي اوته يې له مخه کړي نودافايده کونکي دحصراواختصاص دئ نوځرنګه چي دلته حصراواختصاص مقصوددئ نو بايد متعلق دبسم الله کوم چي دلته ابتدء ياصنف دئ چي په پښتو معني يې شروع کوم يا تصنيف کوم د ئ مؤخر او وروسته ورسره لحاظ کړسي ددي دپاره چي حصر اواختصاص فايده کړي په اسانه ډول بايدداسي درته ووايم چي که مثلاً دشروع کوم لفظ دبسم الله په سرکښي په ترجمه کښي دبسم الله وويل سي نومعني په دي ډول کيږي چي شروع کوم په نام دالله پاک اوداسي نه ويل کيږي چي خاص په نامه دالله پاک ، اوکه دشروع کوم لفظ دبسم الله دترجمي په اخير کښي راوړل سي نومعني په دي ډول کيږي خاص په نامه دالله چي رحمن اورحيم دئ شروع کوم.

دوهمه خبرداده چي دغه حصراوخاصوالئ چي دبسم الله دمتعلق له وروسته کولو ځخه پيداسويدئ په دري قسمه دئ:

اول حصرقلب.

دوهم حصرافراد.

دريم حصرتعيين .

تفصيل ددي خبري دادئ چي په نسبت ودهريه کافرانو ته کوم چي دالله جل جلاله له وجودځخه منکر دي اودټولوحوادثودپيدايښت نسبت ودهرته کوي حصرقلب راځي

ځکه چي دوی تبرک اوتيمن ددهراودزماني په نامه کښي حصرکاوه اوپه بسم الله کښي ددغه حصرقلب اورا اړول سويدي چي حصردحاصلولو دبرکت دخداي جل جلاله په نامه کښي راغلئ دئ ، اوپه نسبت و مشرکانوته په بسم الله کښي حصرافرادراغلئ دئ ځکه چي مشرکانو دتبرک حاصلول هم په نومودبتانوسره کاوه اوهم په نامه دالله جل جلاله سره ، په بسم الله کښي دغه اشتراک رد کړسوي دئ اوتبرک حاصول دالله جل جلاله په مبارکو نومو پوري خاص کړسويدئ ، اودارنګه په بسم الله کښي حصرتعيين راغلئ دئ خوپه نسبت ولاادريه کافرانوته کوم چي يوه

کافره ډله وه اوپه تیروقرنوکښې يې وجوددرلودئ اواوس دغه ډله وجودنلري او مذهب اومسلک ددوی په هرشي کښې شک اوترددوو دمثال په ډول چي ورته وبه دي ويل چي دقيامت ورځ حقه ده اوکه څنګه نوبې درته وويل چي مور نه يوخبر چي ايا دغه ورځ سته اوکه نسته ، دارنګه چي به تاورته وويل چي په يوکار کښې چي يوسړي شروع کوي نوده کارپه سر کښې به دبرکت حاصلولو دپاره دخداي نوم ذکر کوي اوکه دبت ياددهرنوم ؟ نودوی به درته وويل چي مور نه يو خبر ، نوپه بسم الله کښې چي حصر دتبرک حاصلولو دالله پاک په نامه کښې ثابت سو نوپه دي وجه دمتبرک به تعيين وکړسو نو ځکه په بسم الله کښې حصرتعيين راغلئ دئ.

دريمه خبره داده چي دالله دلفظ معني خو دسهولت په وجه په عام ډول داسي کيږي چي ، اَلله ، يعني خداي پاک ، خواصلي علمي معني يې په دي ډول ده چي ، الله ،يعني هغه ذات چي په خارج کښې موجوددئ او واجب الوجوددئ ، يعني وجوديې ضروردئ اوپه هيڅ وخت کښې نيستي سوئ نه دئ اونه نيستي کيږي ،او موصوف دئ په ټولوکاملوصفتوسره اوپاک دئ له ټولو نقصاناتوڅخه.

اودرحمن اودرحيم په معني کښې مختلف قولونه راغلي دي خو مشهوره اوبهتره معني يې هغه ده کومه چي مادرته ذکرکړله.

څلورمه خبر داده چي دبسم الله الرحمن الرحيم په شان کښې داسي حديث راغلئ دئ چې

)کل امر ذي بال لايبدء فيه بذکرالله ،وببسم الله الرحمن الرحيم فهواقطع.

رواه الحافظ عبدالقادر في اربعينه.

يعني هرکارچي خاونددشرف وي چي شروع ونه کړه سي په ده کښې په داسي حال کښې چي شروع کونکئ ددغه کار مستعين وي په ذکرالله پاک سره اوپه بسم الله الرحمن الرحيم سره نودغه کار ډير مقطو ع الخيره اوډيرمقطوع البرکته دئ دارنګه دحمدويلوپه باره کښې دغه مبارک حديث راغلئ دئ.

)کل کلام لايبدء فيه بحمدلله فهواجزم(

رواه ابوداودوالنسائې.

يعني هر کلام چي شروع ونه کړه سي په ده کښې په حمد دخداي سره نوهغه ډير مقطوع البرکته يعني ډير بې برکته دئ نو په مقتضی دحديث دحمددلته يوسوا ل پيداکيږي په دې ډول چې امام بخارې په خپل کتاب کښې له بسم الله څخه وروسته حمد ندی راوړی اومخالفت دحديث دحمديې کړې دی ددې سوال دبخاری شارحينو خوراډير جوابونه کړي دي چي ذکرکول يې ډيرفائده مندنه ښکاره کيږي خودهغوی له جملي څخه يومهم جواب درته ذکرکوم کوم چي شيخ انورپه فيض الباري کښې ذکرکړئ دئ هغه دادئ چي حديث دحمداودبسم الله په حقيقت کښې يوحديث دئ خوصرف په روایاتوکښې دالفاظوبدلون راغلئ دئ مقصودله دواړو حديثوڅخه دامرذي

بال په سرکښي دالله جل جلاله نوم ذکرکول اودالله جل جلاله دکاملوصفتو اظهارکول دي نودبسم الله په ویلو سره دغه مقصودحاصلیږي اودحمدوویلوته په مستقل ډول سره ضرورت نه پاته کیږي

لفظي ترجمه :

باب) باب ددي ، یعني دغه باب په بیان کښي ددي دئ (کیف) چي څرنګه (کَان) وو (بدء) شروع کیدل ،اغازاوپیل کیدل (الوَحْي) دوحي(الي) و (رسول) رسول ته (الله) دخداي پاک (صلي) رحمت دي نازل کړي (الله) خداي پاک (علیه) پرده باندي (و) او (سلم)سالم دي لري خداي پاک ، یعني رسول مطلب داچي دین اوامت دده دي خداي پاک سالم لري اویايې داسي معني وکړه چي سلامتیا دي نازله کړي الله پاک یعني پرده باندي مراداچي پردین اوپرامت دده باندي دي خداي پاک سلامتیا نازله کړي.

توضیح.

په دغه مذکوره عبارت کښي امام بخاري رحمه الله داسي فرمایلي دي چي دا باب د دي دئ چي څرنګه وو، پرځه کیفیت باندي ؤ شروع کیدل دوحي دالله جل جلاله له طرف څخه ورسول صلي الله علیه وسلم ته.

(وَ) او(قَوْلِ) ددي قول ، یعني اودارنګه داباب ددي قول (اللهِ) دالله دي (عزّ)چي غالب دئ دَيْ ، یعني الله پاک پرهرڅه باندي (و) او (جَل) چي لوی دئ دَيْ، یعني الله پاک

(اِنا)بیشکه موږ (اَوْحَيْ) وحي کړیده (نَا) موږ (اِلَيْ) و (کَ) تاته (کَ) په مثل (مَا) ددي (اَوْحَي)چي وحي کړیوه)(ْنَا) موږ (اِلَي) و (نُوْحٍ) نوح ته (وَ) او (النبِيينْ)وهغونبیانوته (مِنْ) چي له ،یعني چي وو له (بَعْدِ) وروسته څخه (ِه) دده، یعني دنوح . / النساء/١٦٢

توضیح:

یعني لکه څرنګه چي داباب دکیفیت دپیل کیدودوحي دئ ورسول علیه السلام ته دارنګه دغه باب دذکرکولو ددي قول دخداي پاک هم دئ چي دسورت النساء (١٦٢) مبارک ایت دئ ، پوسه چي مذکورایت دلته ټول مذکور ندئ دټول ایت ترجمه داده:

بیشکه موږ یعني اي رسوله ، وحي کړیده موږ وتاته لکه څرنګه چي وحي کړیوه موږ ونوح ،علیه السلام، ته اووهغوټولونبیانوته کوم چي له نوح څخه وروسته ؤ او لکه څرنګه چي وحي کړیوه موږ وابراهیم ته اوواسماعیل ته اوواسحق ته اوویعقوب ته اواولاد دیعقوب ته اووعیسي ته اووایوب ته اوویونس ته اووهارون ته اووسلیمان ته (علیهم السلام)اولکه څرنګه چي ورکړیوومورودا ؤد ته زبور.

علمي بحث اوتفصيل:

پوسه چي د(باب) لفظ په اصل کښې (بَوَبٌ) وو په زوردباءاودواوسره بياواو په الف بدل سويدئ په وجه ددغه صرفي قانون چي هرواوچي حرکت لري اوماقبل دده مفتوح وي نوهغه واو به په الف بدليږي دغه لفظ غالباً دابواب په لفظ سره جمعه کيږي ،اوکله يې

جمع اَبْوِبَة هم راځي اوله دغي مادي څخه دبابة اودَباباتٌ لفظونه هم راغلي دي کوم چي ومخ اوومخانوته ويل کيږي اودبابة لفظ په معني دخصلت هم راغلئ دئ ، همدارنګه پوسه چي دلته دري لفظونه دي ، اول دباب لفظ ، دوهم دکتاب لفظ ، دريم دفصل لفظ، دباب لفظ په اصلي لغت کښې ودروازي ته ويل کيږي بيادغه لفظ کله کله دنوع په معني هم راځي اودمصنفينو په اصطلاح کښې دباب لفظ دهغومسئلونوم دئ کوم چي په نوع کښې سره ګډي وي لکه مثلاً مسائلي داوداسه اودکتاب لفظ دهغوټولو مسئلو نوم دئ کوم چي په کتاب کښې له ابتداء څخه بياترپايه پور راغلي وي کومي چي په خپل منځ کښې په جنس کښې سره مختلفي دي ، اودفصل لفظ دهغومسئلونوم دئ چي په صنف کښې سره ګډي وي لکه دمثال په ډول داوداسه په باب کښې دمسح مربوطي مسئلي ، دلته دباب لفظ په اصطلاحي معني سره مراددئ، همدارنګه پوسه چي دلته دباب په لفظ کښې دري احتمالونه دي اول داچي موقوف يعني په سکون سره ددوهمي باء وويل سي پردغه تقديرابتداء دکلام د(کيف) له لفظ څخه کيږي ، دوهم احتمال دادي چي دباب لفظ مرفوع وويل کړسي ، په دي کښې بيا دوه احتماله دي اول احتمال دادئ چي مرفوع سي سره له تنوينه دوهم احتمال دادئ چي مرفوع سي بي له تنوينه او مابعدجملي ته مضاف سي ، پراول احتمال باندي دباب لفظ مبدل منه ده او(کيف کان الي اخيره)ورڅخه بدل دئ او دغه مبدل منه سر ه له بدله خبردئ دمحذوفي مبتداء لپاره چي لفظ دهذا دئ او يا دبابٌ لفظ موصوف دئ اود(مضمونه) لفظ له باب څخه وروسته مقدر دئ اومبتداء دئ او(کيف کان ...الخ) يې خبردئ مبتداء سره له خبري صفت دئ دبابٌ مجموع بيا خبردئ دهذامقدر، اوپردوهم احتمال باندي دباب لفظ مضاف دئ او(کيف کان .. الخ) يې مضاف اليه دي اومضاف سره له مضاف اليه خبردهذامقدردئ.

)کيف(

پوسه چي لفظ دکيف داسي اسم دئ چي په اصل کښې متضمن دئ معني لره دهمزه داستفهام ځکه چي دکيف په لفظ سره سوال کيږي له حال څخه ديوشي اواستعمال يې په کلام دعربوکښې پردووطريقوباندي راغلئ دئ، اوله طريقه داده چي متضمن وي معني دشرط لره لکه په دي قول کښې، کيف تصنع اصنع ، يعني څرنګه چي ته کوي نوزه هم هغه ډول کوم ، اودوهمه طريقه داده چي متضمن سي معني لره دهمزه داستفهام پردغه تقديرباندي بيا دوه احتماله راځي ، اول احتمال دادئ چي دغه استفهامي معني په حقيقي ډول ورڅخه مراده وي لکه په دي قول

کښې چې ، کیف انت، یعني څنګه یې ته ، دوهم، احتمال دادئ چې مرادله دغه استفهام څخه انکار اوتعجب وي لکه په دي قول کښې ، کیف تکذب وانت عالم یعني څرنګه دروغ وایې ته حال دا چې ته عالِم هم یې.

(کان) پوسه چې دغه لفظ په دري ډوله مستعمل سویدئ اول فعل ناقص چې پردغه تقدیریې په پښتوکښې معني په ،ؤ، سره کیږي دوهم فعل تام په معني دوجداوثبت دریم فعل ناقص په معني دصارَ یعني ګرځیدلئ دئ، بناپراول استعمال چې هغه د کان دلفظ حقیقي استعمال دئ دغه لفظ دلالت کوي پرثبوت باندي دخبري خپلي واسم خپل ته په ماضي زمانه کښې بي له اشاري ودي ته چې دغه خبرپه حالي زمانه کښې هم ثبوت لري اوکه یې نلري دلته په همدغه حقیقي استعمال باندي بنادئ.

)بَدء (

پوسه چې په بخاري شریف کښې اختلاف دنسخو بیخي ډیرراځي چې لفظ دباب اولفظ دبدء یې اولني دوه مثالونه دي ځکه چې په ځینو نسخوکښې دبخاري شریف لفظ دباب نسته له بسم الله څخه وروسته اول لفظ دکیف کان راغلئ دئ ،اوپه اکثرونسخوکښې بیا لفظ دباب موجوددئ ، اودارنګه په ځینو نسخوکښې دبخاري شریف دبدء لفظ راغلئ دئ کوم چې په معني دشروع دئ لکه دلته اوپه ځینونسخو کښې دابتداء لفظ راغلئ دئ چې هغه هم په معني دشروع دئ اوپه ځینونسخوکښې دُبدوّ لفظ راغلئ دئ کوم چې په معني دظهوردئ یعني ښکاره کیدل.

)الوحي(

پوسه چې دوحي لفظ په اصل اوپه لغت کښې ډیري معني وي لري چې تفصیل یې په دي شرحه دئ.

۱ ــ الاعلام في خفاء ،یعني پوه کول دیوچا په خفیه اوپه پټه کښې

۲ ــ الاشارة السریعة ، یعني اشاره تیزه یعني ویوشي ته په تیزي اوپه سرعت سره اشاره کول.

۳ــ کتابت، یعني لیکنه کول

۴ ــ رسالت،یعني پیغام.۵ــ الهام . ٦ــ کلام خفي.

اوپه شریعت کښې علماوو دوحي شرعي معني په مختلفوتعبیروسره بیان کړیده. ۱ــ الاعلام بالشرائع ،یعني پوه کول دالله جل جلاله نبي اورسول خپل لره په شرعي احکامو۲ــ کلام الله المنزل علي نبي من انبیائه ، یعني وحي کلام د الله جل جلاله دئ چې نازل کړسوئ وي پریوه نبي باندي له انبیاوودده . ۳ــ اعلا م الله نبیامن انبیائه بشئ اما بکتاب اوبرسالة ملک اومنام اوالهام ، یعنی پوه کول دالله جل جلاله نبي خپله لره په یوشي یا په واسطه دکتا ب اویا په واسطه دورلیږلو دفرشتي اویا په واسطه دخوب اویاپه واسطه دالهام .

دوحي تقسيم.

پوسه چي کومه وحي چي دالله جل جلاله له طرفه وي هغه پردوه قسمه ده اول قسم وحي دنبوت ده چي وحي شرعي هم ورته ويله کيږي ، دوهم قسم وحي دغيردنبوت دئ کوم چي وحي لغوي هم ورته ويله کيږي بيا دغه دوهم قسم پردري قسمه دئ، اول وحي فطري دئ دوهم وحي ايجادي دئ ،اودريم قسم وحي عرفاني دئ ، وحي فطري وحيوانانوته هم له الهي لوري څخه ثابته ده لکه الله جل جلاله چي فرمايلي دي (واوحينا الي النحل .. الاية) يعني اووحي کړيده مور ومچمچيودعسلوته ، اووحي ايجادي بيا ترذوي العقولوپوري خاص ده عام له دي که مومنان وي اوکه کافران وي، وحي ايجادي ودي ته ويله کيږي چي يوڅوک مثلاً ديوشي په جوړولوکښي ياپه بل عبارت ديوکارپه کولو کښي فکراوسوچ ته دوام ورکړي چي دغه شي به په څه طريقه سره جوړکړم يا ودغه کارته به څنګه نقشه برابره کړم نو اخيرالله پاک دده په ذهن کښي دهغه شي دجوړولو يا دهغه کار دکولو نقشه ورواچوي

دمثال په ډول اول وار چي په دنياکښي دموټراوتياري اختراع اوايجاد کوم چا کړيدئ نوهغه ددغودووشيانو دايجادولو په باره کښي تدبر اوتأمل کاوه چي په نتيجه کښي ددي اخرالله جل جلاله دموټر اودتياري دجوړولو نقشه په ذهن کښي ورواچوله ددغه قسم وحي اثبات ځينوعلماووپه دي قول دخداي پاک سره کړيدئ (کلا نمدهؤلاء وهؤلاء من عطاء ربک وماکان عطاء ربک محظورا .،اووحي عرفاني وهغه الهام ته ويل کيږي کوم چي دالله جل جلاله ل طرفه واولياء کرامو ته کيږي دغه قسم وحي په امثالوسره ددغه قول دخداي پاک ثابته ده چي (واوحينااالي ام موسي ... الاية.)

دوحي شرعي قسمونه.

پوسه چي په بيان کښي داقسامو دوحي شرعي علماوو مختلف تعبيرونه کړيدي چي تفصيل يې په دي شرحه دئ.

امام حليمي ذکر کړيدي چي دشرعي وحي څلويښت قسمونه دي کوم چي څلويښتم قسم يې خوب ليدل دنبي دي دده ددغه قول مأخذ هغه مبارک حديث دئ چي امام بخاري يې له حضرت ابوهريره رضي الله تعالي عنه څخه دبخاري په کتاب التعبير کښي چي رسو ل الله صلي الله عليه وسلم (رويياالمومن جز من ستة واربعين جزءًا من النبوة)

يعني خوب ليدل د مومن يو جزده له شپږڅلويښتواجزاوو څخه دنبوت.

دوهم : امام سهيلي په الروض الانف کښي ټول قسمونه دوحي اوه بللي دي او داداکثرو شارحينو نظردئ چي بيان ددغو اوو قسموپه دي ډول دئ ، اول خوب ليدل دنبي ، پردي مسئله باندي اتفاق د ئ چي خوب ليدل دنبي شرعي وحي ده حضرت ابراهيم عليه السلام دخوب دليدلو په وجه د خپل ځوي پر ذبحه کولوباندي اقدام وکړ همداسبب

دئ چي علماوو فرمايلي دي چي دنبي په حيات کښي که نبي ويده واى نو داروانه ووچي يوڅوک دَي له خوب څخه راويښ کړي ځکه چي دده دخوب په وخت کښي ددي احتمال وو چي په خوب کښي به وده ته وحي کړه کيږي.

دوهم قسم وحي القاء في القلب ده يعني که به چيري دنبي پرزړه باندي کوم شي واردسو نوهغه به شرعي وحي وه اوکه چيري دنبي علي السلام دامتي پرزړه باندي کوم چي ولي وي

يوشي وارد سي نووهغه ته کشف ويل کيږي ددغه قسم وحي اودکشف فرق دادئ چي کشف دولى پرزړه باند ي واردیږي اودصواب اودخطاء

ددواړو احتمال لري او وحي دنبي پرزړه باندي واردیږي اواحتمال دخطانلري.

دريم قسم وحي من وراءالحجاب ده لکه الله پاک چي له حضرت موسي عليه السلا م سره دطور په غره کښي من وراءالحجاب خبري وکړي ، اويا لکه چي دمعراج په شپه يې له رسول عليه السلام سره خبري وکړ ي اويالکه چي په خوب کښي الله پاک له نبي عليه االسلام سره خبري کړيدي لکه چي دترمذى شريف په يوه حديث کښي راغلي دي .

)اني قمتُ من الليل فتوضأت وصليتُ ماقُدرلي فنعسُت في صلاتي حتي استثقلتُ فأذاانا بربي تبارک وتعالي في احسن صورة فقال: يامحمد، قلتُ لبيک رب ، قال فيم يختصم الملأالأعلي؟..

څلوم قسم دوحي داده چي ملک اوفرشته په خپل اصلي شکل کښي ونبي ته راسي او الهي کلام ورته ووايې.

پنځم قسم دادئ چي ملک به دانسان په شکل کښي ونبي ته راغلئ اوالهي کلام بي ورته ووايه.

شپږم قسم هغه وحي وه چي دصلصلة الجرس په مثل به ونبي عليه السلام ته وسوه کومه چي تفصيل بي په وروسته کښي انشاءالله راسي.

اوم وحي په واسطه داسرافيل عليه السلام ده.

دريم قول دادئ چي وحي پرڅلورقسمه ده اول قسم وحي من وراء الحجاب ده.

اودوهم قسم وحي د تلقي بالقلب ده .دريم قسم وحي دخوب ده. څلورم قسم وحي په واسطه دفرشتي ده دهري فرشتي په واسطه چي وي اوعام له دي څخه که دغه فرشته په خپل اصلي شکل کښي ونبي ته راغلي وي اوکه دانسان په شکل کښي.

څلورم : علامه آلوسي فرمايلي دي چي وحي پردري قسمه ده ، اول قسم وحي داده چي الله پاک له نبي سره بي له کومي واسطي څخه خبري وکړي، اودوهم قسم يې دادئ چي الله پاک له نبي سره دملکي اودفرشتي په واسطه سره

خبري وکړي ، دريم قسم يې دادئ چي دتلقي بالقلب له لاري وحي ورته وکړه سي اوتلقي بالقلب عام دئ که په خوب کښي وي که په بيداري کښي.

پنځم دحنفي فقهي علماووفرمائلي دي چي وحي پردوه قسمه ده اول ظاهري اودوهم باطني ، باطني وحي ودي ته ويله کيږي چي نبي عليه السلام په يوحکم کښي مثلاً اجتهاد کړيوي بيادالله جل جلاله له طرفه وده ته پرهغه اجتهادباندي قرار ورکړسويوي ، اووحي ظاهري پردري قسمه ده ، اول قسم يې دادئ چي ونبي ته فرشتي بالمشافهه بيان کړيوي ، اودوهم قسم يې دادئ چي له شفاهي بيان څخه پرته ديوقسم واضح اشاري له لاري څخه يې و نبي ته خبره رسولي وي چي په ځيني احاديثو کښي له دي قسم څخه په نفث في الروع تعبيرسويدئ ، دريم قسم وحی دالهام ده وحي دالهام ودي ته ويله کيږي چي دنبي په زړه کښي به دفرشتي له اشاري اوله شفاهي بيان څخه پرته له الهي لوري څخه کومه خبره ولويدله.

فايده:

پوسه چي الهام دنبي په اتفاق شرعي حجت دئ ليکن په الهام کښي دولي اختلاف دئ په دي ډول چي دبعضي صوفيه وو په نزد الهام دولي په شرعي احکامو کښي حجت گرځيدلای سي هم دصاحب دالهام په حق کښي اوهم دنورو په حق کښي ، اوامام رازي اوابن صباغ اوامام سهروردي فرمايلي دي چي الهام دولي دده دخپل ځان په باره کښي حجت دئ مگر دبل چا دپاره دده الهام دليل اوحجت نسي گرځيدلای البته تنها پرده باندي عمل کول په مقتضي دالهام خپل واجب دئ ، صاحب دميزان دغه قول دجمهوروعلماوو قول بللئ دئ ، اوځنو علماوو فرمايلي دي چي الهام دولي نه دده دپاره حجت دئ اونه دبل چا دپاره ځکه چي له نبي څخه پرته دبل چا په حق کښي داسی قطعي دليل نسته چي کوم شي چي دده په زړه کښي ولويږي نودادالله جل جلاله له طرف څخه دئ اودنفس اودشيطان په هغه کښي کومه برخه نسته.

التقرير والتحبير شرح التحرير لابن الحاج الحلبي ج٣ ص٢٩٥ او٢٩٦ .

)الي رسول(

پوسه چي درسول لفظ دفعول وزن دئ کوم چي په معني دمفعول دئ په لغت کښي وليږل کړه سوي ته ويل کيږي يعني وهغه چاته ويل کيږي چي ديوچاله طرفه دقاصدپه توگه وليږل کړسي ، اوپه شريعت کښي وهغه نارينه انسان ته ويل کيږي چي دالله جل جلاله له طرفه وخلگوته لپاره درسولودشرعي احکامو مقررسويوي اونوي شريعت اونو ئ کتاب هم ورکړ سويوي ، اونبي په لغت کښي په ډيرومعنا وو راغلئ دئ.

اول طريق ، لار، دوهم مخبر، خبرورکونکئ ، دريم مرفوع ، لوړکړسوئ، څلورم مرتفع، لوړ .

اوپه شريعت کښي نبي وهغه نارينه انسان ته ويل کيږي چي الله پاک لپاره دشرعي احکامووخلګوته مقررکړيوي عام له دي څخه چي صاحب دنوي شريعت اودنوي کتاب يې هم ګرځولئ وئ اوکه يې نه وي ګرځولي بلکي دمخکښي نبي دشريعت تبليغ کوي نظرودغه بيان ته دنبي اودرسول رسول خاص دئ اونبي ترعام دئ اودا مشهورقول هم دئ اوځني علماء دنبي اودرسول په منځ کښي تباين ثابته وي اوځني ددوی دواړو په منځ کښي دعموم اوخصوص من وجه نسبت ثابتوي اوځني رسول ترنبي عام بولي .

)صلي الله عليه وسلم(

پوسه چي د(صلي) اود(سلم) لفظونه دفعل ماضي معلوم صيغي دي دتفعيل له باب څخه دي چي اصلي معني د(صلي الله عليه) داده چي، رحمت کړيدئ الله پاک پرده باندي ،اودوسلم اصلي معني په دي ډول ده، اوسالم کړيدئ الله جل جلاله دي يعني نبي عليه السلام، اودلته ددواړو څخه ددعامعني مراد ده په دي ډول چي (صلي الله عليه)په معني ليصل الله عليه ،يعني رحمت دي وکړي الله پاک پرده باندي او(سَلم)په معني دليسلم ده يعني سالم دي وګرځوي الله پاک رسول عليه السلام مراددادئ چي امت دده اودين دده دي الله پاک سالم کړي اويايې داسي معناده چي سلامتيادي نازله کړي الله پاک پرده باندي يعني پردين اوامت دده باندي.

پوسه چي ځينوعلماوو (صلي الله) دامرحاضر په معني کړيدئ يعني اللهم صلي عليه ، اودارنګه يې وسلم دتفعيل دباب دامرحاضر په معني ګرځولئ دئ خوځما په فکر داخبره مناسبه نه ده ځکه چي دغه دواړه فعلونه دواحدمذکرغائب صيغي دي نوبايد په معني دامرغائب وګرځولي کړي سي نه دامرحاضر مخاطب..

پرنبي عليه السلام باندي ددردويلوشرعي حکم.

پوسه چي علامه کرخي رحمه الله تعالي فرمايلي دي چي په ټول عمر کښي يوځل درود ويل پرنبي عليه السلام باندي فرض دئ اووروسته بيامستحب دئ او علامه طحاوی فرمايلي دي چي هروخت چي دنبي عليه السلام مبارک نوم ذکرکړسي نودرود ويل پرده مبارک باندي فرض دئ ، امام کرخي فرمايې چي په دغه مبارک ايت کښي چي، صلوا عليه وسلموا تسليما ، امرپه درود ويلو سره راغلئ دئ او امرخو تقاضي دتکرار نکوي بلکي محتمل دتکراردئ اوامام طحاوي فرمايلي دي چي ددرود شريف دويلوحکم پريوه سبب باندي بنادئ چي هغه دنبي عليه السلام دنوم ذکر کيدل دي اودادعلم اصول قاعده ده چي دسبب په تکرار سره مسبب هم مکرر ګرځي

)وقول الله(

پوسه چي دقول لفظ مرفوع اومجرور دواړه ويل کيدلای سي دمرفوعوالي په صورت کښي به دقول لفظ مبتداء سي او مذکوره ايت د انا اوحينا بي خبر سي اويا به دمحذوف فعل فاعل سي اودعبارت تقدير به دي ډول سي ويدل عليه قول الله يعني اودلالت کوي پرثبوت دوحي باندي ورسول عليه السلام ته دغه قول دخداي پاک او يامبتداء

دئ خبريې محذوفه ده اي وفيه قول الله، يعني اوثابت دئ په اثبات کښې دوحي ورسول عليه السلام ته داقول دخداي پاک، دغه ټول صورتونه پردي تقدير باندي دي چې دباب لفظ منوّن يا موقوف وويل کړسي اودمجرور والي په صورت کښې به دغه قول دباب دلفظ پرمضاف اليه جمله باندي معطوف سي اوتقديربه په دي ډول سي ،وباب ذکرقول الله عزوجل، يعني اودارنګه دغه باب دذکرکولوددي قول د خداي پاک دئ چې ،انااوحينا الخ ، ځني علماء دذکردلفظ پرځاي دمعني دلفظ تقدير کوي خوزما په فکردغه تقدير مناسب نه دئ ځکه چې په دغه باب کښې دمذکوره ايت دمعني بيان نه دئ سوئ.

همدارنګه پوسه چې د، وقول الله ، لفظ دکيف ترلفظ هم نه سي لاندي کيدلای ځکه چې قول دالله جل جلاله کيفيت نلري ځکه چې کيفيت له اعراضوڅخه دئ او دالله جل جلاله ذات اوصفات محل داعراضو نه دي ځکه چې اعراض ټول حادث دي اوذات اوصفات د الله جل جلاله قديم دي.

دمذکوره ايت له راوړلوڅخه دامام بخاري مقصد.

پوسه چې په دغهباب کښې ددغه ايت له راوړلوڅخه دامام بخاري مقصدمتعددامورديې،اول امر دادئ چې په قصد دتبرک يې راوړيدئ ،دوهم امردادئ چې په راوړلوسره ددغه ايت ددي خبري شه وضاحت راسی چې ونبي عليه السلام ته وحي دنبوت اودرسالت وحي وه ، اودريم امردادئ چې امام بخاري رحمه الله تعالي په دغه ايت سره اثبات دوحي ورسول عليه السلام ته کړيدئ.

په ذکرسوي ايت کښې دحضرت نوح عليه السلام بالخصوص ذکر په څه وجه سويدئ اودادم عليه السلام ذکريې سره له دي چې هغه ترټولو مقدم اواول نبي وونه دئ فرمايلئ ؟

ددغه سوال په مختلفوجوابوسره جواب سويدئ.

اول دا چې حضرت نوح عليه السلام اول دمرسلوانبياوودئ کوم چې اصحاب د جديدجديد شريعت وه ځکه حضرت ادم اوحضرت شيث اوحضرت ادريس علي نبينا وعليهم السلام که څه هم نبيان وه مګررسولان نه وو، خودغه جواب په دي وجه کمزورئ بلل سويدئ چې داخبره غيرمسلمه ده چې ادم عليه السلام صاحب دشريعت نه وو اودوهم جواب دذکر سوي سوال په دي وجه سويدئ چې حضرت نوح عايه السلام اول له هغونبيانو څخه دئ کوم چې قومونه يې دايمان د نه راوړلو په وجه دالله پاک په عذاب سره هلاک سويدي ، نوپه دي کښې درسول عليه السلام دوخت وکفاروته اشاره سويده چې که تاسي دحضرت محمدصلي الله عليه وسلم نبوت ونه منئ نوتاسي به هم دالله جل جلاله په عذاب سره هلاک سي او قابيل که څه هم دحضرت شيث عليه السلام په زمانه کښې شيث عليه السلام دادم عليه السلام دوصيت مطابق په قتل ورساوه خوهغه يوسړي وو اوسره له دي چې په اسماني عذاب سره هم نه دئ هلاک سوئ بلکي حضرت شيث عليه السلام دي قتل کړ،دارنګه نور جوابونه هم سته چې ذکرکول يې مفضي دتطويل ګرځي.

شرح فضل الباری (۷) برخه، د بخاری شریف د اول حدیث لفظي ترجمه او د هغه په اړه مهم تحقیقات

محترموورونوپه دغه (۷) برخه کښي وتاسي ته دبخاري شريف داول حديث کوم چي د(انماالاعمال بالنيات) حديث دی معنی اولفظي ترجمه په داسي ډول درته کوم چي عالِم اوبې علمه هريو کامله فايده ورځخه اخستلای سی اودارنګه په دي برخه کښي دمذکورحديث په اړه ځيني مهم اوضروری تحقيقات درته کوم اوددغه مبارک حديث دالفاظوتحليل اوتشريح اودارنګه له دغه حديث څخه مستنبطي سوی مسئلې اوځيني سوالونه اودهغوی جوابونه به په اتمه برخه کښي انشاء الله درته راسي،

_____ الحد يث الاول

لفظي ترجمه:

(عن علقمه) له علقمه څخه (ابن وقاص اللَّيثي)چي ځوی دوقاص ليثي دی روايت دی (يقول)چي ويل به ده (سمعت) چي اوريدلي دی ما (عمر) له عمرڅخه (ابن خطاب)چي ځوی دخطاب دئ (رضي)راضي دي سي (الله)خدای پاک (عنه)له ده څخه يعني له عمرڅخه (على المنبر)پرمنبرباندي يعني پرمنبرباندي دمسجدنبوي (قال) چي وويل ده يعني عمر : (سمعتُ) واوريدل ما يااوريدلی دی ما (رَسُولُ)له رسول څخه(الله)دخدای پاک(صَلَّي) رحمت دی وکړی (اللهُ) خدی پاک(عَلَيْهِ)پرده باندی(و)او(سَلَّم)سالم دی کړی الله پاک دَیْ يعنی دين ا وامت دده له هرقسم افاتو څخه (يَقُوْلُ)چي ويل ده يعني په داسي حال کښي چي ويل رسول عليه السلام: (اِنَّمَا)خاص داخبرده يا(اِنَّمَا)بيشکه،په تحقيق سره (الْاَعْمَالُ)عملونه يعني ثواب دنيکوعملو (بِالنِّيَّاتِ)په نيتوپوري يعني ثواب دنيکوعملودنيستي اودهستی يا په بل تعبير دوجوداو دعد م په اعتبارپه نيتوپوري مربوط اوترلی دی په دي ډول چي که نيت سم اوصحيح ؤنوبيادنيک عمل ثواب سته اوکه نيت خراب ؤنوبيادنيک عمل ثواب نسته ، (وَاِنَّمَا) اوخاص داخبرده (لِكُلِّ اَمْرِئٍ) هرسړی لره يعني سته هرسړی لره (مَا) هغه شي، هغه حاصل يعني له عمل څخه دده (نَوَى) چي نيت کړيوی ده يعني دهغه شي په عمل خپل کښي، (فَمَنْ) نوهرڅوک که (كَانَت) ؤو (هِجْرَتُهُ) هجرت دده يعني له دارڅخه دکفرودارته داسلام ياله مکي مکرمي څخه ومديني منورې ته (اِلَى دُنْيَا) ودنياته يعني دپاره ددنيا (يُصِيْبُهَا) چي حاصله کړی هغه دنيايعني ددي پاره هجرت وکړي چي دنيا حاصله کړي (اَوْ) يا (اِلَى اِمْرَأَةٍ) ويوې ښځي ته يعني يا وو هجرت دده دپاره ديوي ښځي(يَنْكِحُهَا)چي په نکاح کړي هغه ښځه (فهِجْرَتُهُ) نوهجرت دده (اِلَى مَا) وهغه ته يعني ثابت دی وهغه ته (هَا جَر) چي هجرت کړيدی ده (اِلَيْه) وهغه ته يعني لکه څرنګه چي ده په خپل نيت کښي په هجرت کولوکښي ددنياحاصلول ياله يوې ښځي سره نکاح کول خپل اصلي هدف ګرځولی دی.نودارنګه دخدای اودرسول په نزدهم دغه هجرت دده ددنيايادښځي دپاره بلل کيږي اوپه اخرت کښي به بې نتيجې اوغيرمقبول وی(

علمی څیړنی:

د (رضی الله عنه) بیان

،، پوسه چی دلته دری قسمه لفظونه دی اول(صلاة اوسلام) دوهم(رضی الله عنه) دریم(رحمة الله علیه)علماؤ ،په دی باره کښی اختلاف دی۔ چی دغه دری سره لفظونه دهرچاله نامه سره ویل کیدلای سی یعنی که نبی او رسول وی او که تابعی وغیره وی اوکه په دی کښی تفصیل اوتقسیم دی، دامام احمدبن حنبل رحمه الله مسلک دادی۔ چی دغه دری سره لفظونه دهرچاله نامه سره ویل کیدلای سی اودامام اعظم اودامام مالک اودامام شافعی رحمهم الله مسلک دادی۔ چی دلغوی معناګانو په اعتبارکه څه هم ددغودروسرو لفظوویل دهرچا په باره کښی صحیح کیدلای سی مګرپه عرف کښی دشرعی صلاة اوسلام تررسول الله صلی الله علیه وسلم پوری خاص دی۔ اورضی الله عنه ویل ترصحابه ؤ پوری خاص دی۔ اورحمة الله علیه له ماسوی دصحابه ؤسره لکه تابعین وغیره ویل کیږی،، انظرتقریر بخاری،،

له ترجمة الباب سره ددغه حدیث مناسبت

پوسه چی ددغه حدیث دمناسبت په اړه له ترجمة الباب سره علماؤمتعددقولونه ذکرکړیدی چی بیان یې په دی شرحه دی۔ اول قول دادی۔ چیدغه مبارک حدیث داسلام پیغمبر په مدینه کښی دوحی دظهوراودنصرت په ابتداکښی فرمایلی دی۔ نوله ترجمة الباب سره یی مناسبت دادی۔ چی باب خودبدءالوحی دی۔ اوحدیث دبدءظهورالوحی په موقع کښی ویل سوی دی۔ دوهم قول دادی۔ چی دغه حدیث پرهجرت باندی مشتمل دی۔ کوم چی مقدمه دوحی ؤوځکه چی دوحی ترشروع دمخه به داسلام پیغمبر وغارحراته داعتکاف دپاره هجرت کاوه دریم قول دادی۔ چی دغه حدیث امام بخاری په قصددخطبی ویلی دی۔ اوپه دی مقصد یې نه دی۔ ویلی چی دترجمة الباب اثبات په وکړی دغه دری سره قولونه صاحب دعینی ذکرکړیدی خوځماپه فکریوهم په زړه پوری قول نه دی څلرم قول دادی۔ چی دغه مبارک حدیث امام بخاری ددی دپاره راوړی دی۔ چی عالمانوا وطالبانوته په تعلیم اوتعلم کښی دحسن نیت تعلیم ورکړی اوپنځم قول دادی۔ چی شرعی عملونه لکه روژه لمونځ وغیره دوه طرفه لری یوطرف یې دادی۔ چی الله جل جلاله په دغو کاروسره بندګان مکلف کړیدی اودوهم طرف یې دادی۔ چی دغه کارونه بندګان کوی اوورځخه صادریږی نوداول طرف مبدأ یې وحی ده اوددوهم طرف مبدأیې حسن نیت دی۔ شپږم قول دادی۔ چی ددغه حدیث دترجمة الباب ددوهم جزء سره کوم جی مذکوره ایت دی۔ مناسبت موجوددی۔ هغه دادی۔ چی په دغه حدیث سره امام بخاری دیوداسی قسم وحی مثال پیش کړیدی۔ کوم چی هغه دټولوانبیاؤپه منځ کښی مشترک ؤ ځکه چی ټول انبیا په اخلاص اوپه حسن نیت سره مامور وه دغه راز نورقولونه هم سته خوځماحقیرپه فکرکښی یوهم په کامل ډول په زړه پوری نه راځی دغه راز اکثرځایونه په بخاری شریف کښی دحدیث اودترجمة الباب دمناسبت پیداکول دنس خوږ وی البته ځما به ناچیز فکرکښی داخبره راګرځی چی دامام

بخاری رحمه الله ددغه حدیث له راوړلو څخه مقصد دادی چی دغه وحیی چی زه اوس دهغی اودهغی دبدء کیفیت درته بیانه وم دایوداسی امر دی چی په هغه سره چی هرڅه ثابت سویدی نو په هغوی سره عمل کول هلته دخدای اودرسول پ نزد داعتباروړدی چی په حسن نیت سره وی اوطرز دراوړلوددغه حدیث دلته طرزدجملی معترضی دی، ددغه مبارک، حدیث دشان ورودبیان ، پوسه چی دقران کریم کوم ایت یاسورت چی دکوم خاص سبب په وجه نازل کړسوی وی نووهغه سبب ته په عرف کښی شان نزول ویل کیږی اورسول الله صلی الله علیه وسلم چی کوم حدیث دیوه خاص سبب په وجه فرمایلی وی نو وهغه سبب ته شان ورودالحدیث یا موردالحدیث یاسبب دورودالحدیث ویل کیږی اولکه څرنګه چی دقران کریم د ایاتواودسورتو دپاره شان نزول ضرورندی بلکه ډیرایاتونه له الهی لوری څخه په داسی حال کښی نازل سوی دی چی کوم خاص سبب دنزول نلری اوداسی نده لکه چی دځینو علماؤچی فکر اوګمان دی چی دقران کریم هرایت اوسورت شان نزول لری حتی یوه عالم ویوه ویب سائټ ته کوم چی زمور تفسیر فضل الرحیم پکښی خپریږی لیکلی وه چی کشکی دایاتوشان نزول هم پکښی بیانیدلای دغه خبره ده دهمدغه فکر په سبب کړیوه ورنه مور په تفسیرکښی دشان نزول مکمل رعایت په نظرکښی نیولی دی.بهر حال دنبی علیه السلام حدیثونه هم په همدغه ډول دی چی ځنی یی خاص سبب دورودلری اوځنی یی نلری اودغه مبارک حدیث دهغواحادیثوله جملی څخه دی کوم چی سبب دورودیی سته چي بیان یی دادی چي عینی ذکرکړیدي چی له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چی ده فرمایلی دي چي په مورکښي یوه نفرله یوي ښځي ځخه کومه چي دام قیس په نامه سره یادیدله دنکاح مطالبه وکړه نوهغي له ده سره په نکاح کولو کښي داقید ولګا وه چي دَیْ به ومدیني ته هجرت کوي نوبیا ده هجرت وکړاوام قیس هم له ده سره دشرط دموجوجودیت په وجه نکاح وکړه نوبیابه مور ودغه سړي ته مها جر ام قیس وایه یعني نوپه دي سبب رسول علیه السلام دغه حدیث وفرمایه ددغه سړي اصلی نوم هیچا ندی ذکر کړی البته دام قیس په باب داخبره شارحینو ذکرکړیده چي عیله نومیدله.داخودبخاری شریف دشارحینوویناوه مګرزما په فکرکښی داخبره راګرځی چی کله چی رسول علیه السلام اوځنی اصحاب ومدینی ته په هجرت ورغله نودمدینی انصارواله دوی سره داسی همکاری پیل کړه چی په خپلوجایدادوکښی ئی دوی له خپلوځانوسره ګډکړل اوچی چابه دوي ښځی درلودلی نویوه بی دمکی ویوه مهاجرته ورطلاقه کړه نوپه دغه وخت کښی داخطره پیدا سوه چی مباداداسی پیښه نسی چی ډیرخلګ په دی نیت ومدینی ته هجرتونه راپیل کړی چی دنیا اویاښځه حاصله کړی نوپه دی وجه دیوه داسی نبوی فرمان وصادره ولوته ضرورت ؤچی په هغه سره دداسی کارو مخنیوی ؤسی،

،دتعارض دفع کول،،

پوسه چی ددغه مبارک حدیث اودیوه بل مبارک حدیث ترمنځ یوقسم تعارض موجود دی.چی بیان یې په دی ډول دی.چی نسایې وغیره یوداسی روایت ذکرکړیدی.چی حضرت ابوطلحه رضي ا لله عنه له حضرت ام سلیم څخه ددی غوښتنه وکړه چی له ده سره نکاح وکړی نوام سلیم په جواب کښی ورته وویل چی قسم په خدای دی ای

ابوطلحه چې ته داسې څوک نه يې چې غوښتنه دې قبوله نکړه سې مګر ته کافريې اوزه مسلمانه يم نوداوماته حلال اوجائز ندې چې له تاسره نکاح وکړم اوکچيرې ته اسلام قبول کړې نوزه به له تاسره نکاح وکړم اومهر اوورول ځما به ستادغه اسلام قبلول وې اوبل هيڅ شي نه درځخه غواړم وروسته ابوطلحه مسلمان سواوام سليم له ده سره نکاح وکړه نودلته خوابوطلحه له ام سليم سره دنکاح کولوپه وجه اسلام قبول کړاودغه مسلمانيدل دده دام سليم ورول سو،سره له دې چې دغه اسلام قبلول دده دخداى اودرسول په نزدهم معتبرکړسواوحال دادې چې دانماالاعمال دحديث په مقتضى بايد دده اسلام نه واى صحيح سوى ځکه چې هجرت کول خوپه درجه کښې تراسلام راوړلوډيرکښته دې نوچې هجرت دفاسدنيت په وجه باطل ګرځې نو اسلام قبلول په فاسدنيت سره خوبيخى بايد صحت ونلرى علامه بدرالدين عينى ددى سوال متعددجوابونه کړيدى اول په دې ډول چې دابوطلحه په حديث کښې داخبره نسته چې ده له ام سليم سره دنکاح په وجه اسلام قبول کړچې دهجرت له حديث سره معارض سى بلکه صرف دغه خبرپکښې راغلى ده چې ام سليم ترهغه پورى دده له نکاح ځخه منعه وکړه چې ودته الله پاک هدايت کاوه او واسلام راوړلوته يې بى له کوم دنيوى مطلب ځخه رغبت پيداسواواسلام يې قبول کړنووروسته ام سليم له ده سره نکاح وکړه اودوهم په دې ډول چې ابوطلحه دنورواصحابوپه شان په خپل شوق اورغبت سره اسلام قبول کړ البته په تبعى ډول يې دغه خبره هم په خيال کښې وه چې مسلمان سم نوبيابه له ام سليم سره نکاح کوم او دريم په دې ډول چې دغه حديث دابوطلحه صحت نلرى ځکه چې دمسلمانو ښځودنکاح حرام والى له کافرانوسره دحديبيې دصلحى له واقعى ځخه وروسته اودمکى شريفى ترفتحى دمخه نازل سويدې اودام سليم اودابوطلحه دنکاح واقعه خوډيره پخواپه مکه کښې رامنځ ته سويوه اوپه هغه وخت کښې دمسلمانى ښځى نکاح کول له کافرسړى سره رواوه نوبياځنګه ام سليم ودته ويل چې ځما نکاح له تاسره نده جائزه ځکه چې ته کافريى اوزه مسلمانه يم

له دي ځايه پرته په بخاري شريف کښې څوځايه ددغه حديث روايت سويدې ؟

پوسه چې دغه مبارک حديث په بخاري شريف کښې شپږځايه نور ذکرسويدې سره له اختلافه دشيوخو اول په کتاب الايمان کښې دوهم په کتاب العتق کښې دريم په باب دهجرت دنبى عليه السلام کښې څلورم په باب دنکاح کښې پنځم په کتاب الْاَيمان والنذور کښې شپږم په باب دترک دحيلوکښې،

له بخاري ځخه ماسوى په نورو کوموکتابوکښې ددغه مبارک حديث روايت سويدې؟

جواب، په دغوکتابو کښې ئې ذکر راغلي دي، اول په مسلم شريف کښې په اخيردکتاب الجهادکښې اودارنګه ابوداودبيهقي دارقطني او داسي په نوروټولومعتبروکتابودحديثوکښې دغه مبارک حديث مذکوردې البته امام مالک صاحب يى په موطا کښې روايت ندې کړې ،،بيان داختلاف دالفا ظوددغه حديث،،پوسه چې دغه مبارک

حديث په څلور قسمه الفاظوسره روايت کړسويدی په دي شرحه اول انما الاعمال باالنيات دوهم الاعمال بالنية دريم العمل بالنية څلرم الاعمال بالنية،

د دغه مبارک حديث نوعه څه ده؟ پوسه چي دغه مبارک حديث دابتداء دسندپه اعتبار فرد غريب دی او د سند د اخير په اعتبار مشهوردئ او ځينوعلماؤمتواتربللی دی خوداقول صحيح نه دی ځکه ددغه حديث دسندبيان په دي ډول دی چي په صحابه ؤ کښي تنهاعمررضي الله عنه له رسول عليه السلام څخه ددغه حديث روايت کړيدی اوله حضرت عمرڅخه بياتنهاعلقمه ددغه حديث روايت کړيدی اوله علقمه څخه بياتنهامحمدبن ابراهيم ددي حديث روايت کړيدی.اوله محمدبن ابراهيم څخه يې بيا تنهايحي بن سعيدانصاري روايت کړيدی.له يحي څخه بياله دؤسووڅخه زياتوانسانانوددغه حديث روايت کړيدی.نوځکه متواترخوبيخي نسي کيدلای البته نسبت واول دسندته غريب اونسبت واخيرته مشهوردی،،

ددغه حديث دعظمت دشان په باره کښي علماؤڅه ويلي دي،پوسه چي ابوبکربن داسه ويلي دی چي له ابوداودڅخه مي واوريدل چي دانسان دپاره دده ددين په باره کښي دغه څلورحديثونه کافي اوشافی دی،اول حديث د(الاعمال بالنيات)دوهم حديث د(الحلال بين والحرام بين)اخرجه البخاری ومسلم في کتاب المساقاة والنسائي وترمذي کلاهما في کتاب البيوع وابن ماجه في کتاب الفتن، دريم حديث د(ومن حسن اسلام المرءترکه مالايعنيه) اخرجه الترمذی في کتاب الزهد وابن ماجه فی کتاب الفتن، څلرم حديث د(لايکون المؤمن مؤمنا حتي يرضی لاخيه ما يرضی لنفسه)داخيري حديث په بدل کښی صاحب دفتوحات ربانيه دغه حديث ذکر کړيدی (ازهد في الدنيا يحبک الله) اخرجه ابن ماجه في کتاب الزهد، داول حديث معني خوپه مختصرډول تيره سوه اوتحقيق يې انشاءالله راروان دی.اوددوهم حديث خلاصه مطلب دادی چي داسلام پيغمبرفرمايلي دي چي قطعي اومشهورحلال اوحرام خووهرچاته ښکاره دی خودحلالواودحراموپه منځ کښي داسي مشتبه اوپوشيده شيان سته چي وانسان ته يې په ښکاره ډول بدوالی نه معلوميږی نوهرڅوک چی له دغه رازپوشيده شيانوڅخه ځان وساتي نوپه تحقيق سره ده برائت اوپاکوالی خپل دين اوخپلی آبروله حاصل کړاوددريم حديث مطلب دادی چي داسلام پيغمبرفرمايلي دي چي که يوڅوک غواړی چي دده اسلام حسن ،نيک اوښائسته وګرځي نودَيْ دي له هرهغه کارڅخه ځان ساتي اوپريږدي دې کوم چي له ده سره مناسب نه وي او بې فايدې اوعبث کاروی اودڅلورم حديث مطلب دادی چي ترهغه پوری هيڅ يوسړی کامل مومن نسي جوړيدلای ترڅوچي په ده کښي دغه صفت موجوديږی چی دخپل مسلمان ورورډپاره هغه شي خوښوي کوم چي دخپل ځان دپاره يې خوښوي اودپنځم حديث مطلب دادئ چي له دنياڅخه بې رغبته سه نو به الله جل جلاله له تاسره محبت وکړی اوتابه دخپل ځان دوست وګرځوی،،اوقاضی عياض رحمه الله فرمايلی دی چی دحديثوامامانودانماالاعما ل الخ حديث داسلام پوره دريمه برخه بللې ده ځکه چی په دغه حديث کښی دنيت ذکر راغلی دی اواسلام جوړله دريوشيانو څخه دی قول اوفعل اونيت اوامام شافعی فرمايلی دی،، ان هذاالحديث يدخل فيه نصف العلم ،،يعنی په دغه حديث کښی نيمَی برخه دعلم دين

داخله ده توجیه دقول دامام شافعی رحمه الله داده چی عملونه دوه قسمه دی اول هغه دی چی ترظاهری اندامو‌پوری تعلق لری اودوهم قسم ئی دادی چی ترزړه پوری تعلق لری او نیت له دوهم قسم عملو څخه دی.امام عبدالرحمن بن مهدی فرمایلی دی چی هرڅوک چی اراده دجوړه ولودیوه کتاب وکړی نودی باید ابتدادکتاب په دغه حدیث وکړی امام خطابی فرمایلی دی چې زمور متقدمینومشائخوبه دامستحب ګڼله چی دغه حدیث دهرشی په سرکښی راوړل کیږی ،،انظر عینی وکتاب الاذکار واعلام الحدیث وفتوحاتربانیه،، اوامام احمدرحمه الله فرمایلي دي چي اصول داسلام دري حدیثونه دی اول حدیث د(انماالاعمال بالنیات) دوهم حدیث د(الحلال بین والحرام بین) اودریم داحدیث (من احدث في امرنا هذا مالیس منه فهورد)اخرجه البخاری فی کتاب الصلح ومسلم في کتاب الاقضیة وابوداودفي کتاب السنة وابن ماجه في المقدمة دذکرسوی حدیث دالفاظو ترتحقیق دمخه کوم چي په اتمه برخه کښي به انشاءالله درته راسي ویوڅونورومهمو خبروته متوجه سی اوله خبرداده چي مقدسي په شروط الائمة الستة کښي صفحه۷۱ــه ، اوحازمی په شروط الائمة الخمسة کښي صفحه۷۳ــه، ذکرکړیدي چي امام حاکم فرمایلي دي چي امام بخاري په بخاري شریف کښي داسي حدیث نه دي راوړی چي هغه دي غریب وي یعني په یوه مرحله له مرحلوکښي دي دده راویان تردووکم وی مګردحاکم دغه قول علماؤردکړیدی

اول په دغه ذکرسوي حدیث سره دوهم په هغه حدیث سره چي دبخاري د ټولواحادیثوپه اخرکښي راغلی دی.چی الفاظ ئی دادی کلمتان حبیبتان الی الرحمن ثقیلتان فی المیزان خفیفتان علی اللسان سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم ځکه چي دغه دواړه حدیثونه غریب دی داول حدیث دغرابت بیان مخکي تیرسواوددوهم حدیث دغرابت بیان دادی چي له رسول علیه السلام څخه تنهاابوهریره رضي الله عنه دهغه روایت کړیدی اوله ابوهریره څخه تنهاابوزرعه اوله ابوزرعه څخه بیاعماره بن قعقاع اوله عماره څخه بیاتنها محمدبن فضیل ددغه حدیث روایت کړیدي اوله محمدبن فضیل څخه وروسته يې بیاراویان ډیرسویدی اوحازمي په خپل کتاب شروط الائمة کښي دپاره دابطال ددغه قول ځان ته باب ایښی دی اوحافظ ضیاء مقدسي په دي باره کښي یو کتاب جوړکړیدی کوم چي غرائب الصحیحین يې نوم دی اوتردؤسوو(۲۰۰)زیات غریب اوفردحدیثونه کوم چي په صحیحین کښي راغلي دي په دغه کتاب کښي ذکرکړیدي اوودغه قسم معلوماتوته ددي دپاره ضرورت سته چي داحادیثودتعارض اودترجیح په وخت کښي په نفعه تمامیږی دوهمه خبره داده چي د (انماالاعمال ...الخ)د حدیث په اړه یوه تعجبی پیښه داده چي سره له دي چي حضرت عمردغه مبارک حدیث پرمنبرباندی په عامه مجمع کښي ویلی دی مګرله علقمه څخه پرته بل هیچا ددغه حدیث روایت له ده څخه نه دی کړی اودارنګه رسول علیه السلام هم دغه مبارک حدیث په عامه مجمع کښي فرمایلی دی ځکه چي په بخاري شریف کښي ددغه حدیث اوه ځایه روایت سویدی چي اخري روایت يې په باب ترک الحیل کښي کړیدی کوم چي دسرالفاظ يې په دي ډول دي(یاایهالناس انماالاعمال باالنیات..الخ)اوسره له دی چی له عمررضی الله عنه څخه پرته ئی بل هیچاله رسول علیه السلام څخه روایت ندی کړې دریمه خبره داده چي امام بخاري په خپل دغه کتاب کښي دهغه روایت اوحدیث ذکرترټولو احادیثوړومبی کړیدی.کوم چي ده يې له حمیدی څخه روایت کړیدی داپه دې وجه چي حمیدی په نسب کښي قریشي دی

اورسول علیه السلام فرمایلي دي(قدمواقریشاً ولاتقدموها)یعني قریش دمخه کوی اوتاسي پرقریشوباندی مه دمخه کیږی اودارنګه حمیدی دمکې دی اودوحی ابتداءپه مکه شریفه کښي سویده همداسبب دی چي دوهم یې هغه حدیث راوړیدی کوم چی له امام مالک څخه یې روایت سویدی اوامام مالک دمدیني منوري دی اودوحي دوهم مهبط هم مدینه منوره وه ،، ومن الله توفیق

بخاری او شرح فضل الباری،۱۲، برخه

الحدیث الثانی

محترموروڼوپه دغه برخه کښی دبخاری شریف ددوهم مبارک حدیث متن سره له اعرابه اوسره له حرکاتواوسکناتواوسره له لفظی ترجمې په ډیره اسانه اونایابه طریقه سره درته وړاندی کوم،اول دحدیث متن ته گوری اودالفاظودحدیث حرکتونه وغیره وپېژنی

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ ا لْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ يَأْتِيكَ الْوَحْيُ فَقَالَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ(أَحْيَانًا يَأْتِينِي مِثْلَ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ وَهُوَ أَشَدُّهُ

عَلَيَّفَيُفْصَمُ عَنِّي وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ، وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِيَ الْمَلَكُ رَجُلًا فَيُكَلِّمُنِي فَأَعِي مَا يَقُولُ ، قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْيُ فِي الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ فَيَفْصِمُ عَنْهُ وَاَنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا).۳۰۴۳(

لفظی ترجمه

،(حدث)حدیث وکړ،خبروکړه،(نا)وموږته یعنی امام بخاری فرمائې چی وماته سره له نورومګروڅما خبر راکړ،عبدالله،عبدالله ،ابن،چی ځوی،یوسف،دیوسف دی(قال)وویل ده یعنی عبدالله وموږته (اخبر)چی خبر راکړ(نا)موږته یعنی وماوزما وملګروته،مالک،مالکینی کوم چی یوله څلورواومانوڅخه دی(عن)له ،هشام،هشام څخه(ابن) چی ځوی،عروه،دعروه دی (عن)له (ابی) پلارڅخه(ه)دده(عن)له،عائشة،عائشې څخه(ام)چی مور(المؤمنین)دټومومنانوده (رضی)راضی دی سی(الله) خدای پاک (عن)،له(ها) دې څخه(ان) چی په تحقیق سره،الحارث،حارث(ابن) چی ځوی ،هشام،دهشام دی (سال)سوال وکړ،پښتنه وکړه،ده ینی حارث(رسول)له رسول څخه(الله) دخدای ،(صلی) رحمت دی وکړی(الله)خدای پاک(علیه)پرده باندی(و)او(سلم)سالم دی کړی دی یعنی الله پاک یعنی رسول علیه السلام دی سالم کړی له ټولوآفاتواوهرقسم تکلیفوڅخه (ف) نو(قال)وویل ده یعنی حارث (یارسول الله) ای رسول دخدایه (کیف)څرنګه(یأتی)راځی(ک)وتاته(الوحی)وحی (ف)نو(قال) وویل (رسول) رسول (الله) دخدای(احیاناً)چی کله کله،په بعضی وختوکښ،، (مثل)په مثل یاپه مثل کښی (صلصلة)داواز (الجرس)دجرس،یعنی دژرنګولې (و)او(هو)دغه یعنی دغه قسم دوحی (اشدّ)ډیرسخت دی یعنی ډیرسخت قسم دی(ه)دده یعنی دوحی(علی)پرماباندی(ف)وروسته(یفصم)قطع کېږی دغه یعنی دغه وحی یاسختی دوحی (و)حال داوی (قد)چی په تحقیق سره(وعیت)په یادکړئ وی ما (عن)له(ه)ده څخه یعنی له وحی راوړونکی څخه یاله وحی څخه (ما)هغه(قال)چی ویلی وی ده یعنی وحی راوړونکی وماته یعنی په داسی حال کښی وحی قطع سی چی ماټوله

له وحی راوړونکی څخه چی فرشته ده یاده کړي وی(و)او(احیاناً) په څینووختوکښی (یتمثل)ګرځی (لی)مالره یادپاره ځمایعنی دپاره داسانی ځما(الملک) فرشته(رجلا) په مثل دسړی (ف)بیا(یکلم)خبره کوی دی یعنی فرشته په وحی سره (نی)له ماسره (ف)نو(اعی)یاده وم زه (ما)هغه څه (یقول) چی وایي دَیْ یعنی ملکه هغه څه وماته(قالت)وویل یعنی عروه ویلی دی چی وویل وماته ،عائشة،عائشې رضی الله عنهاچی(و)او(ل)خامخایعنی قسم کوم چی خامخا(قد)په تحقیق سره(رأیْ)ولیدی(تُ)ما(هُ)دَیْ یعنی رسول علیه السلام (ینزل) چی نازلیدله(عَلَيْ)پر(ه)ده باندی(الوحی) وحیه (فی)په(الیوم) ورځ کښی(الشدید)سخته (البرد) دیخوالی سړوالی یعنی په داسی ورځ کښی چی یخوالی ئې ډیرسخت وو (فَ)بیا،وروسته،(یفصم)قطع کیدله دایعنی وحیه (عن)له(هُ)ده څخه(و)حالداوو(انّ)چی په تحقیق سره (جَبِيْنَ)تندَیْ(هُ)دده (لَ)خامخا(یتفصد) بهیدی(عرقاً)له خولوڅخه یاپه حیث دخولویعنی په سخته خن کښی دوحی دشدت اوسختی په وجه دده مبارک له تندی څخه داسی په زورسره خولې رابهیدلې لکه یوانسان چی فصداو رګ ووهی اوپه زوراوقوت سره وینه ورڅخه راوبهیږی،په راتلونکوبرخوکښی به ددغه مبارک حدیث په ارتباط علمی څېړنی اوتحقیقات ان شاءالله درته راسی،

ومن الله التوفیق تمت

بخاري اوشرح فضل الباري ۱۷برخه،۳حدیث

محترموروڼودبخاری شریف ددغه دریم مبارک حدیث په ارتباط په په مختلفوبرخوکی دامطلبونه درته راسی ،۱،ددغه مبارک حدیث لفظی ترجمه کومه چی په اول قدم کی مهم مطلب دی دوهم دحدیث دالفاظوعلمی تحقیقات دریم دمومن دخوبوتحقیق څلرم دانبیاؤدخوب حکم پنځم له حدیث څخه مستنبط مسائل شپږم دخلوت حکم اوفائدې ،اوم دجبریل ددرې واره نیولوپه غیږکی رسول علیه السلام لره حکمت وغیره په دې برخه ددریم حدیث ټول متن اودحدیث له ابتدا څخه بیا دحدیث تردغه عبارت پوری چی(فجاءه الملک) لفظی ترجمه درته وړاندی کېږی

-3حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ أَنَّهَا قَالَتْ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ فِي النَّوْمِ فَكَانَ لَا يَرَى رُؤْيَا إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلَاءُ وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ فَيَتَحَنَّثُ فِيهِ وَهُوَ التَّعَبُّدُ اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ الْعَدَدِ قَبْلَ أَنْ يَنْزِعَ إِلَى أَهْلِهِ وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا حَتَّى جَاءَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ قَالَ مَا أَنَا بِقَارِئٍ قَالَ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ فَقُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ{اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ}فَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْجُفُ فُؤَادُهُ فَدَخَلَ عَلَى خَدِيجَةَ بِنْتِ خُوَيْلِدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا فَقَالَ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي فَزَمَّلُوهُ حَتَّى ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ فَقَالَ لِخَدِيجَةَ وَأَخْبَرَهَا

الْخَبَرَ لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي فَقَالَتْ خَدِيجَةُ كَلَّا وَاللَّهِ مَا يُخْزِيكَ اللَّهُ أَبَدًا إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ وَتَحْمِلُ الْكَلَّ وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ وَتَقْرِي الضَّيْفَ وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ فَانْطَلَقَتْ بِهِ خَدِيجَةُ حَتَّى أَتَتْ بِهِ وَرَقَةَ بْنَ نَوْفَلِ بْنِ أَسَدِ بْنِ عَبْدِ الْعُزَّى ابْنَ عَمِّ خَدِيجَةَ وَكَانَ امْرَأً قَدْ تَنَصَّرَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَكَانَ يَكْتُبُ الْكِتَابَ الْعِبْرَانِيَّ فَيَكْتُبُ مِنْ الْإِنْجِيلِ بِالْعِبْرَانِيَّةِ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَكْتُبَ وَكَانَ شَيْخًا كَبِيرًا قَدْ عَمِيَ فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ يَا ابْنَ عَمِّ اسْمَعْ مِنْ ابْنِ أَخِيكَ فَقَالَ لَهُ وَرَقَةُ يَا ابْنَ أَخِي مَاذَا تَرَى فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَبَرَ مَا رَأَى فَقَالَ لَهُ وَرَقَةُ هَذَا النَّامُوسُ الَّذِي نَزَّلَ اللَّهُ عَلَى مُوسَى يَا لَيْتَنِي فِيهَا جَذَعًا لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا إِذْ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ قَالَ نَعَمْ لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ قَطُّ بِمِثْلِ مَا جِئْتَ بِهِ إِلَّا عُودِيَ وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّيَ وَفَتَرَ الْوَحْيُ

(1/7)

لفظی ترجمه،

-3[حَدَّثَ]حدیث ووایو[نَا]وموږته ،یعنی موږ ډېرشاګردان ناست ؤ وموږتوولوته حدیث ووایه [يَحْيَى]یحیی (بْنُ]چی زوی دی [بُكَيْرٍ]دبکیر[قَالَ]وویل ده یعنی یحیی وموږته [حَدَّثَ]چی حدیث ووایو[نَا]وموږته ،یعنی وموږ ډېرو نفروته [اللَّيْثُ]لیث[عَنْ]له [عُقَيْلٍ]عقیل څخه ،یعنی چی لیث روایت کاوه د دغه حدیث له عقیل څخه [عَنْ]له[ابْنِ]زوی څخه [شِهَابٍ] دشهاب،یعنی چی عقیل بیا روایت کاوه ددغه حدیث له زوی څخه دشهاب [عَنْ]له [عُرْوَةَ]عروه څخه[بْنِ]چی زوی دی[الزُّبَيْرِ]دزبیر[عَنْ]له [عَائِشَةَ]عائشې څخه[أُمِّ]چی موږده[الْمُؤْمِنِينَ]دتولومومنانو،یعنی چی عروه دزبیر ځوی بیا روایت کاؤ له عائشې رضی الله عنها څخه[أَنَّ]ددې چی بېشکه [هَا]دې ،یعنی عائشې [قَالَتْ]وویل[أَوَّلُ]چی اول [مَا]دهغه[بُدِئَ]چی شروع وکړه سوه[بِهِ]په هغه سره [رَسُولُ]ورسول ته [اللَّهِ]دخدای [صَلَّى]رحمت دی نازل کی[اللَّهُ]خدای پاک [عَلَيْهِ]پرده باندی [و]او[سَلَّمَ]سلامتیا دی نازله کی الله پرده باندی [مِنْ]له [الْوَحْيِ]وحی څخه [الرُّؤْيَا]خوب لېدنه وه [الصَّالِحَةُ]صالحه ،یعنی خوشحالی راوستونکې خوب لیدنه [فِي]په[النَّوْمِ]خوب کی ،،پوسه چی خوب لېدنه خونه وی مګرپه خوب کی خوکله کله درؤیا دلفظ اطلاق پرهغه لېدنه باندی هم کېږی چی په بیداری کی وی لکه چی تفصیل بې په علمی تحقیق کی راسی نوپه دې وجه دلته دفی النوم لفظ راوړل سویدی [فَ]نو[كَانَ]ؤدَی یعنی رسول علیه السلام[لَا]چی نه بې[يَرَى]لېدَله [رُؤْيَا]هیڅ خوب لیدنه [إِلَّا]مګر،یعنی مګرلیدَله بې هغه خوب لیدنه [جَاءَتْ]چی رابه غله دا،یعنی په داسی حال کی چی رابه غله داخوب لیدنه دده [مِثْلَ]په مثل [فَلَقِ]دروشنی [الصُّبْحِ]دسهار ،یعنی نوده مبارک چی به کوم خوب ولیدَیْ نودهغه تعبیربه دسهار دروشنی په څېرواضح اوروښانه ؤ[ثُمَّ]وروسته،یعنی وروسته له لېدلودداسی خوبو[حُبِّبَ]خوښ کړسو[إِلَيْهِ]وده ته[الْخَلَاءُ]خلوت،ګوښه نشینی له خلګوڅخه[و]او[كَانَ]وودَیْ ،یعنی رسول علیه السلام [يَخْلُو]چی خلوت

بې کاؤ[بِغَارِ]په غار کی [حِرَاءٍ]دحرا ،چی دیوه غره نوم دی په مکه شریفه کی کوم چی اوس مهال جبل نوروته ویل کېږی [فَ]نو[يَتَحَنَّثُ]تحنث بې کاؤ[فِيهِ]په ده کی یعنی په دغه غارکی [وَهُوَ]دَ یْ ،یعنی تحنث [التَّعَبُّدُ]تعبددی ،یعنی تحنث وتعبدته ویل کېږی کوم چی په معنا دعبادت کولودی [اللَّيَالِيَ]په شپوکی [ذَوَاتِ]خاوندانی [الْعَدَدِ]دشمار،یعنی نوتحنث يې کاؤپه دغه غارکی دحراپه شپومعدودوکی [قَبْلَ]له مخه[أَنْ]تردې [يَنْزِعَ]چی رجوع به کوله ده [إِلَى]وَ[أَهْلِهِ]اهل ته دده [وَ]او[يَتَزَوَّدُ]زاد،توښه به اخیسته ده یعنی رسول علیه السلام[لِذَلِكَ]لپاره دهغه یعنی ده به لپاره دهغه مقدارشپوچی په یوه نوبت به ده مبارک دحراپه غار کی تېره ولی دخوراک اوڅښاک آذوغه له ځان سره اخستله (ثُمَّ) بیابې(يَرْجِعُ)رجوع کوله ده یعنی له غارڅخه(إِلَى)و(خَدِيجَةَ) خدیجې ته(فَ)بیابې(يَتَزَوَّدُ)توښه اخستله ده(لِمِثْلِهَا)لپاره دمثل دهغوشپویعنی بیا چی بې دڅونه شپودتېرېدلوخیال ؤپه غارکی دحرا نوهغونه نفقه بې بیاورسره واخستله (حَتَّى)ترهغه پوری یعنی داسلسله جاری وه ترهغه پوری (جَاءَ)چی راغی(هُ)وده ته (الْحَقُّ) حق یعنی وحی(و)حال داؤ(هُو) چی دَی (فِي)په (غَارِ)غارکی ؤ(حِرَاءٍ)دحراغره،تمت من الله التوفیق

Download from: aghalibrary.com